قصه‌لی افسانی

سلیمان لایق

قصی او افسانی

سلیمان لایق

خپرونکی
دافغانستان دعلومو اکاډیمی
دژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز
بښتو ټولنه
۱۳۶۱

PROPERTY OF ACKU 2731

سمونـــی

دځینو معاذیروله مخی‌په دغه کوچنوتی رساله کی ځینی وړی طباعتی تیروتنی راغلی دی، چی لوستونکی دی یی دکتـــاب ترلوستو دمخه سمی کړی .

ناسم	سم	مـخ	کرښه
	(۱) دمقدمی ناسمی :		
راو یاتو	راویانو	دریم	۰۰
االجتماعی	اجتماعی	څلورم	۲۲
کړی	کیږی	لســـم	۲۲
را اوړله	را اړوله	یوولسم	۳۰
حداد	حدود	یوولسم	۳۰
سرسم	سره‌سم	او ولسم	۱۳
	(۲) دمتن ناسمی :		
پریورت	پریووت	٦	۱۰
سپیدو	سپیدو	۱۸	۱۹
گردیز دی	که گردیزدی	۳۹	۱٤
له که پښونه	که له پښونه	٤۲	۱۰
اوږه ده	اوږ ده	٥۰	۲

قصی او افسانی

* دنړی بیلا بیل اولسونو ځانله خاصی قصی او افسانی لری ، چی ځینی یی په هماغه اولس یاقوم پوری خاصی پاتی کیږی ، اوځینی یی بیادخپل مقبولیت له امله دنورو اولسونو اوقومونو فولکلور او ادب ته هم دځینو خاصو وجوهاتو اوځانګړو تاریخی، اقتصادی ،سیاسی او کلتوری شرایطو له امله ور داخلیږی او دیوه بل ملت یاقوم افسانی دنورو اولسونو او قومونو په افسانو، شفاهی روایاتواو لیکنی(تحریری) ادب کی ځای نیسی.

پښتون اولس هم دخپلو شفاهی او لیکنیو افسانو اوقصو له پلوه دلورو شرایطو تابع دی . دپښتو دشفاهی او لیکنی ادب ډیری افسانی اوقصی ددغه میرنی اولس دپراخو پرګنو خپلی قصی دی چی قهرمانان او د داستان چاپیریال یی په پښتنی محیط اوماحول پوری اړه پیدا کوی .

په دغه اولس کی جوړی شوی اوپه همدی اولس کی خور ی دی.دغه ډول افسانی اونکلونه ددوی دژبی اوادب مال ګنل کیږی د دغو ملی قصو ترڅنګه مورږ داسی قصی او روایتی افسانی هم لرو، چی دمذهبی او یاځینو نورو کلتوری سیاسی او اجتماعی عواملو له لیاری زمورږ اولس ته راننوتی ، کلیوالو پښتنویی شفاهی اشکال او لیکوالو هغویی تحریری اولیکنی ډولونه مورږ ته پریښی دی .

زمورږ په ژبه او ادب کی قصی که شفاهی دی او یا تحریری دنظم اونثر په بڼه موندلی کیږی، چی منظومی هغه یی بیا په فورمی اوشکلی لحاظ څو انواع لری .

سربیره پرشکلی خصوصیاتو زمورږ اولس افسانی د نورو اولسو نودافسانو اوقصوپه څیر، عشقی، حماسی، مذهبی خرافی اونور انواع او اقسام لری (۱) . زمورږ هغه قصی او

---

* ددغی لیکنی ټول مأخذ به دلیکنی په پای کی وښودل شی

افسانی‌چی‌خاص زمونږدخلکو معنوی شتمنی ده،که په موضوعی لحاظ هر مضمون ولری، خوبیاهم زمونږ دلوړلس دروحیاتـــو ، اجتماعی ژوند ،او مشخصو کلتوری شرایطو نمایندگی کـوی . اومونږ له خپلو قصو او افسانو څخه دخپل اولس په باب پـــه اتنوگرافیکو، سوسیولوژیکو اونورو ساحو کی‌دځیږنو لـپـاره پراخه استفاده کولای شو ، اوحتی زمونږ ملی حکایات ، افسانی، قصی او نکلونه دپښتنو دملی او اجتماعی تاریخ دځینو برخـو په سپړلو کی‌هم‌دپوهانولپاره دځیږنی‌اوګرو یږنی‌پراخ ډګرلری. نوځکه ماکسیم گور کی (۱۹۳٦ ع مړ) په‌عمومی ډول دافسانو په باب‌ویلی‌وو:« دلرغونو انسانانو قصی‌اوافسانی د دغو خلکو دهغوهیلو اوخیالونو ښکارندویی کوی،چی‌دوی‌یی د تـر سـره کیدو امکان‌په زړوکی‌پاله» اوبیازیاتوی‌چی: «هیڅ‌داسی ذهنی محصول نشته چی ریښی‌یی په واقعیت‌کی نغښتی نه وی » (۲) په همدی اساس‌که مونږ له‌خپلوقصو، افسانو اونکلونو څخـه دعلومو په لوړو یـادوشوو څـانګو کی دځیږ نی‌امیـد لـرونـو بی‌ځایه خبره نه ده، او معاصر سوسیولو جستا نهم په دی باب کلکه عقیده لری،چی دخلکو فولکلوری افسانی دټولنیو هنـــی دځیږنو لپاره دپام وړمواد لری (۳) .

له لوړو مقدماتی خبرو وروسته اوس غواړم اصلی موضوع ته داخل‌شم ، اودقصو او افسانو په باب دپښتو په شفاهـــــی (ګړنی) او تحریری (لیکنی) ادب کی ځیږنه وکړم :

(۱) په پښتو ګړنی ادب کی :

زمونږ ګړنی ادب قصی ، افسانی او نکلونه زښت زیات لری په دغو قصوکی ځینی لنډی او ځینی یی‌هم اوږدی دی‌چی نکـل چیان‌یی په ویلو دژمی اوږدی شپی لنډوی اوحتی دیوه نکل پـه ویلو څوشپی تیریږی .

زمونږ شفاهی اوږدی قصی‌اوافسانی (نکلونه) معمولاًحماسی عشقی، مذهبی اوبعضاً خرافی موضوعاتو پوری اړه پیدا کـوی.

دغه اوږدی قصی ، داستانونه او نکلونه که پښتنی د ی ، اویاله بله محیطه راغلی ، دنکل په بیلابیلو برخوکی ځینـــی منظومی‌هم‌لری، چی‌زمونږ داولسی ادب ځیږونکی‌یی دنکلونو ناری بولی. داهم دهیرولو نه ده چی‌زمونږ‌په فولکلور کی‌دخپلو غـیر پښتنی قصو هم‌اوس زمونږ دکلتـور رنګ‌اخیستی اودیر پښتنی عناصر په کښ شوی دی . .

دغه ډول نکلونه زیاتره لرغونی تاریخ‌لری ، خوژبـــی او مضمون یی د زمانی په تیریدو سره ځینی تغیرات منلـی دی . په هره تاریخی مرحله کی‌یی څه موضوعات او روایات له لاسه ورکړی، اوځه نورنوی عـناصر پکی زیات شوی دی،دخلـکو له ژوند سره‌یی جوخت یون‌کړی دی، اود ځینو ارتیاوو له پلوه یی ځینی‌تاریخی پیښی اواجتماعی حالات‌هم په ځان‌کی هضم کـــړی دی (٤) .

همدارنګه دیوه مسلط کلتور اویا یوه قوم او اولس لـه خلکو نه د رامنځ‌ته شوو نکلونو، قصواو افسانو* په روایاتو کی هـم له یوی سیمی څخه بلی سیمی‌ته توپیرونه لیدلای شو، اوداپه دی معنی‌چی دیوه‌نکل یایوی قصی‌څو روایته یا وریانته په جامعه کی موجود وی، اودغه ډول تغییرات پکی دراویاتو ډیر ښت او له یوی سیمی نه بلی ته دیون په مرحله کی ور داخلیږی .

له دغو اوږ دونکلونو سربیره زموږ په شفاهی ادب‌کی ځینی لنډی قصی‌هم‌شـته ، چی‌په هغوکی زیاتره‌اخلاقی‌انتباهی اوټوکی قصی شاملی دی‌او په ځینو دغووړو قصوکی اخلاقی‌او اجتماعی مسایل هم په خاصو کلیوالی او اولسی رموزوکی نغښتی وی . همدارنګه په دغو وړو قصوکی ځینی قصی دژویویا حیوانا تودی. چی‌په سمبو لیك ډول دعبرت اوپند دپاره ویل کیږی .

په همدی اساس کله چی S. Sthorburn دپښتنو له ځینو سیموځخه دغه ډول لنډی قصی او افسانی را ټولی اوپـه انګریـزی ژبـه تـرجمـه کـړی او بیایی پـه خپـل کـتـاب Bannu or our Afghan fronteir کی‌چاپولی،نویی‌د تضیف‌له مخی پر دغو لاندی دریو څانګو وویشـــلی :

Class I Hamorours and moral
Class II comic and jocalar
Class III Fables (5)

دغه ډول وړی قصی اویالنډ شفاهی داستانونه زیاتـــړه د پښتنی محیط دبیلابیلو برخو دخلکو دشفاهی روا یاتـو زیږنده دی، خوځینی دغه ډول لنډی کیسی له ځینو کتابو، لکه گلستان، بوستان، منطق الطیر، طوطی‌نـامه ، کلـیله ودمنه ، الف‌لیلـه

*دلته له افسانی څخه مراد اولسی نکلونه ، قصی او افسانـی دی، نه دمعاصر ادب افسانه یالنډه قصـه (Short story)

مثنوی معنوی ، جوامع الحکایات او نورو دغه ډول حکایتـــی او قصصی کتابو څخه هم په راګډه شوی دی ،اوزمونږ محیطی عناصرو اودپښتنو دکلتور خاصو خصوصیاتو داسی پکی ځـان ورغښتی دی، چی اوس یی له نورو دغه ډول پښتنی سوچه قصو ســـره پیژندنه او بیلونه یوځه ګرانه ایسی .

زمونږ شفاهی ادب په بیلابیلو ځانګو کی دنثر دیوی ډیری ستری خزانی ترڅنګه دنظم یوه ذخیره هم لری ، اما دپښتنو شفاهـــی منظوم ادب بیا په لوی سرکی په دووعمده ځانګو ویشل کیږی :(۱) عامی سندری چی ویونکی یی نه دی معلوم ، (۲) خاصی سندری، چی ویونکی یا موجدین یی معلوم دی ، اوزمونږ دشفاهـــی ادب ځیرونکی یی ویونکی اولسی شاعران بولی. دغه اولسی شاعران زیاتره بیسواده اود اولس په منځ کی رالوی شوی دی، له خپله محیطه او جامعی متأثردی، داولس له هیلوسره سم په لرغونـو ملی آهنګو نو او فـور مو نو کی سندری وایی ، اودغه سندری هم په خلکو کی مشهوری دی، راویان اوحاملین یی خلك بلـــل کیږی . داولسی سندرو دغه فورم حکایی هم لری ، اود اوږدو چاربیتو په چوکاټ کی یوه قصه هم رانغښتلی شی، چی دغه ډول منظومی اولسی قصی دشکل له پلوه دچاربیتی په فورم پـوری اړه لری، مګر موضوعات یی لکه دمنثورو هغو متنوع او مختلف دی البته داهم دهیرولونه ده چی دچاربیتو موضوعی سکښت یوازی دقصو اوحکایو دبیان لپاره خاص نه دی، بلکه په چار بیتو کی دقصو او افسانو ترڅنګه ملی، ا اجتماعی ، تاریخی ، عشقی ، دینی اونور موضوعات هم دشاعر انولـه ذهنی سیرسـره سـم بیا نیږی.

دچاربیتو په فورم کی دویلو شوو قصو ځینی نمونی پـــه تحریری ادب اوحتی دځینو شاعرانو په دیوانونوکی هم شتـه لکـه : دعبدالطیف اخکزی (ددولـسمی پیـړی شـاعر) داوښ او سوی قصه چی دپښتو داولسی شاعری په ملی اوزانو کی نظـم شوی، اود پټی خزانی په وسیله تر موږه را رسیدلی ده (٦) . اویالکه دعمران پیښوری په دیوان کی دطوطی او سوداګر قصه چی دچاربیتی په فورم کی نظم شوی ده (۷) . زمونږ دلوړی ادعا لپاره سندونه دی . داهم باید ووایم چی عمران دغه قصـــه دمولانا جلال الدین بلخی دمثنوی معنوی له لومړی دفتر څخـه منظومه ترجمه کړی ده اوداستا درشاد دځیرنی له مخی دغـــه قصه دمولوی احمد دتنکی (۱۲٦۱ ـ ۱۳۰۰هـ ق)په ګنج پښتو

کی‌هم لـه مثنوی څخه ترجمـه شـوی‌ده، اوددغـه کتـاب پـه حکایاتوکی تر دیرشمی نومری لاندی راغلی ده ، او مولوی ـ جلال الدین بیادغه قصه دشیخ فرید الدین عطار (٦٢٧ هق مړ) له اسرار نامی څخه اخیستی ده (٨) .

سر بیره پردی په لیکنی ادب‌کی په اولسی شعری فورمونو ویلی شوی قصی دمولوی قدرت علی هـــزاروی‌دی ، او ده د «فتح‌خان اورابیا» او «رت‌وپدم» قصی دچـاربیتو اوهقـامو نود اولسی‌شاعری په قالبونوکی ویلی‌دی،چی‌په «خزینةالسلطان» نومی اثرکی خوندی دی (٩) . تورسم‌خان د «دوه سرو» هم له دغـی دلی شاعرانو څخه کنل کیږی ،چی‌په «گنج یاقوت نایاب »(١٠) نومی‌کتاب کی یی دچاربیتو په قالب کی ویلی شوی قصی راوړی دی. دده له قصوخخه ـ چی‌دچاربیتو په کالب کی ویل شـوی ـ دفتح‌خان اورابیا،ظریف خان‌اوامی‌قصی‌دهیر ولونه دی.داوسنیو پیښوریو شاعر انو داشعار وپه مجموعو کی‌دغـه دول حـکایی زښتی زیاتی دی، چی دټولو له تفصیل سره زماکار نشته . خـو څه‌چی‌پردغه بحث زیاتول غواړم دادی چی : زمونږ په اولس کی په سلګونو حکایتی چاربیتی دخلکو په سینوکی محفوظی دی ، اوتر اوسه نه دی‌ضبطی‌شوی،اودضبط‌لپاره‌چی‌یی‌کوم کارشوی ، په هغوکی دډارمستتر (١٨٤٩ـ١٨٩٤) کارونه دټولوپه سرکی دیږی ،نو موږی مستشرق دنورو اولسی ادبیاتو ترڅنګه ځینی حکایتی چاربیتی هم دخلکو له خولو لیکلی‌او د«پښتو نخوا دشعر هارو بهار » (١١) نومی کتاب په پاڼوکی‌یی خوندی کـړی دی .

په وروستیږ وختوکی چی‌د اولسی سندرو کومی مجموعی چاپ شوی په هغوکی د «پښتنی سندری » (١٢) دوهمه برخه دغـه خصوصیت‌لری، چی‌داولس له سینوڅخه راټولی شوی سندری یکی خوندی دی، او حکایتی چاربیتی هم‌یکی راغلی دی .

له چاربیتو سربیره ـ چی حکایه یی دبیان یوه‌نوعه ده ـ پـه اولسی خاصو سندروکی دحکایو او قصو دبیان لپاره موږ خـاص اولسی فـورم‌هم لرو چـ هغـه ته «داستان» ویل‌کیږی، اوزمونږ دیری عامیانه اولسی افسانی چی په موضوعی لحاظ مختلفی دی په دغه زمونږ آریایی فورم‌کی بیان‌شوی دی. داستان د اولسی‌نظم یو داسی فورم‌دی چی‌د اولسی ادب دخاصو سندرو څیړونکویی تعریف په دی دول کړی دی :

« داستان هغه شعردی ،چی دمثنوی په شان ویل کیږ ، سرنه لری ، اودیوه بیت ددواړو مسریو قافیه یی یوشان وی »

دغه داستان چې په شکلي لحاظ له مثنوي سره ورته والی لري، زموږ ځینې پښتانه یې بدله بولي. داولسي داستان لپاره ددوی دغې نومونې ته موږ په درنه ستر که گورو، خودوی په دې برخه کې یوه بله تیروتنه کوي، اوهغه داچې په خپلو ادبي څیړنو کې دغه اولسي داستان اوکتابي مثنوي ته چې- په پښتو ادب کې له اووسوو کلو قدیمه سابقه نه لري - په یوه ارزښت قایل دي، حال داچې داستان زموږ خپل تخلیقي ادبي ژانر دي، اما مثنوي (کتابي) سملاسي په تقلیدي فورمونو کې شمارل کیږي (۱۳). زموږ اولسي شاعران په سلګونو اولسي داستانونه هم نظم کړي دي، مګر دیره لږ برخه یې خوندي شوې ده، که ګرده دغه ډول حکایې بدلې سره راټولې شي، نو پنډۍ پنډۍ مجموعې به ځني جوړې شي، اوزموږ دملي کلتور په غنا کې په پراخه برخه ولري.

(۲) په پښتو لیکنې ادب کې :

زموږ لیکنې ادب ته هم حکایې فورمونه دتر جمولې لیاري، اویا هم داولس خپلو حکایو لاره ورپیدا کړې ده. دغه حکایې فورمونه هم لکه ګرني هغې په لوی سرکې په نظم او نثر سره بیلیږي. په لیکنیو ادبیاتو کې دپښتنو خپلو قصوته ملي اوله نورو ژبو او ادبیاتو څخه واردو شوته پښتو شوي قصې ویلای شواي. په تحریري ادب کې منظومې او منثورې حکایې هم لنډې او اوږدې دي ،چې زه به یې لاندې لږ نورهم پسې وڅیړم :

الف ، منظوم لیکنې ادب :

په منظوم پښتو ادب کې ملي افسانې او حکایې لکه : آدم خان درخاني، دلې اوشهو ، ظریف خان اوامې، فتح خان او رابیا ، موسې خان او ګلمکۍ، شیرعالم او مامونې او نورې دغه ډول قصې ... اوپه پښتو ترجمه شوي په لس ګونو کتابي قصې زموږ په منظومو ادبیاتو کې شته ، لکه :ګل صنو بر، بهرام اوګلندامه ، حسن ودل، سبز پري وزرد پري، هشت پیکر، جهاندار افسانۀ غم امود، سیف الملوك او نور ... چې هره قصه یې که ملي ده او پښتو شوې ، کتابي بڼه لري ، اومختلف روایاتونه دبیلابیلو شاعرانو له خوا نظم شوې دي ، اودا په دې معنې چې هره قصه دوو، دریو ، حتې تردې زیاتو شاعرانو نظم کړې ده (۱٤)، اوپه هره قصه کې دشاعر خپلې خبرې اوذهنې څرګندونې هم لیدلی کیږي .

په منظوم حکایوی‌ادب کی له اوږد دوکتابی قصو (هره قصه د ځانته کتاب په ښه) سربیره موږ وړی منظومی حکایی‌هم لرو، لکه دسعدی (٦٩٠ یا ٦٩١ هق مړ) دبوستان (٦٥٥ هـ ق تألیف) ترجمه چې زرغونی کاکړی په ٩٠٣هـ ق‌کی پای ته رسولی، او یو کوچنی‌حکایت یی‌دپتی‌خزانی پانو تر موږ پوری رسولی دی.

همدارنګه دلوی خان خوشحال خان ختك (١٠٢٢ ـ ١١٠٠ هق) په اخلاقنامه (١٥) کی هم‌ځینی کوچنی حکایی راغلی دی، او د مهین (١١٢٧هـ ق حدود) تذکرةالابرابر (١٦) خود کوچنیو حکایو مجموعه ده، چې‌د شیخ‌فریدالدین عطار له آثارو او طوطی نامی څخه یی لنډ لنډ منظوم ترجمه کړی دی.

دمحمد نومی پښتانه له‌خوا دمثنوی‌معنوی دځینو حکایاتو منظومه ترجمه‌چی دخزانةالقرأ (١٢٦١هـ ق‌تألیف) په بیلابیلو برخو کی‌راغلی‌دی (١٧). هم‌ددی لړی یوه کړی ده.

همداډول له ماسره دلنډو کیسو یومنظوم کتاب شته، چې دسراوپای‌پانې‌یی‌لویدلی،، خودچاپ‌له خصوصیاتو یی‌څرګندیږی‌چی کابو سل‌کاله دمخه به دزاړه هندوستان په ښارو کی چاپ شوی وی، په دی کتاب‌کی دیری لنډی لنډی قصی په دینی جامه کی راوړل شوی، چی ځینی اجتماعی نتایج هم پربنا کیدای شی، اودیوی لنډی قصی عنوان یی دادی: «دوه ځامن» چی‌تو له قصه ١٧ بیته ده. اوپه دی بیتونو پیل کیږی:

واورئ تاسو دا بیان ځان پری‌پوه کړئ په داستان
دیوکس وو فرزندان ښایسته دوه تنه ځوانان
هغه یو له لاړشه پلار ور ته وکړ دا گفتار
ای‌فرزنده باغ له ځه ته پکی کار کړه په مزه ته
هغه وی‌چی‌نه شم‌تللی پکی کار نه شم کولی
ولی‌پسته شه پښیمانه باغ ته لاړ شه زما جانه (١٨)

همدارنګه دملانعمت‌الله (١٢٧٥هـ ق زوکړی) له‌خواد الف‌لیله دقصو منظومه ترجمه هم زموږ په منظوم لیکنی ادب کی دوږ وقصو یوه غنیمت مجموعه ده. دغه‌او داسی نوری لنډی او اوږدی ملی‌اویاپښتو شوی‌منظومی قصی‌دفورم په لحاظ زیاتره مثنوی دی، خوځینی‌یی بیاپه نورو شعری قالبونو، لکه: غزل او قصیده کی هم‌نظم شوی‌دی. اماپه موضوعی لحاظ حماسی، عشقی، قسماً اجتماعی، دینی، اخلاقی او خرافی محتوی لری.

ب : په منثور لیکنی ادب کی :

په منثور لیکنی ادب کی هم موږ ملی او پښتو شوی حکایی او افسانی لرو، دغه حکایوی نثرونه هم کله اوږده په کتابی بڼه اویاهم لنډ لنډ دی، چی له څو حکایو څخه یی یوه حکایوی منثوره مجموعه جوړه کړی وی. په ملی منثورو حکایوی کتابی قصو کی دمسعود بن عبدالله آدم ودرخانی اویاد نور محمد (۱۱۷٤ هق) زوکړی دبریښنا اوخدی قصه (۱۹) اونور رائی، اودپښتو شوو په لړکی یی ځینی دینی منثورداستانونه هم لرو چی تفصیل به یی موضوع او پرده کړی ،خو په لنډو هغوکی یی دگلستـــــــان (٦٥٦هق تألیف) دحکایتونو ترجمی رائی (۲۰) اویاهم دافضل خان ختك (۱۱۸۳هـ ق مړ) له خوا د «کلیله ودمنه» ترجمه (۲۱). د لنډومنثورو حکایو په لړکی دریږی. دهانری جارج را ورټـــی (۱۸۲۵ ـ ۱۹۰٦ع) له خوا دایسپ حکیم دقصو پښتو ترجمه (۲۲) دمولوی احمد دتنگی گنج پښتو (۲۳) زموږ په قدیم ادب کـــی دلنډو منثورو حکایو ډیری بڼی نمونی دی. دغه ډول قصـــی هـم دمضمون له پلوه له منظومو هغوسره ورته والی لری .

(۳) په پښتو معاصر ادب کی :

پښتو معاصر ادب دنوی عصر له مدنی غورځنگونو سره ســم خپله جوله سمه اونوی کړه، له اروپایی ادبه سره دپښتنـــو داشنایی له املـه په حکایوی فورم کی دزړو قصو ، افسانو ا و نکلونو پرځای ناولونه ، داستانونه ، رومانونه اولنډی کیسی له نویو اصطلاحاتو او عصری مفاهیمو سره زموږ په ادب کی روا ج شوی، خود دغو نو یو فورمونو ترځنگه زموږ په معاصر و لیکو الوکی هم ځینی داسی لیکوال راپیدا شول چی زړی لاری چـاری یی پری نښودی، او قدیمو کارونو ته یی هم شانه کړه، بلکه دنویو روشونو دخپلولو ترځنگه یی زړی اولسی یاکتابی قصـی هم په نظم او نثر ترجمه اویا وکښلی، په دی لړکی د عبدالغفـور قاسمی له خوا د انوارسهیلی منثوره ترجمه (۲٤) د عبدالاکبر خان اکبر (۱۳۵٦ ش مړ) له خوا دمثنوی معنوی دیوی برخـــی پښتو منثوره ترجمه (۲۵) او بیا تر ټولو دمخه په معـاصـــره دوره کی دمنشی احمدجان (۱۸۸۲ ـ ۱۹۵۱ع) د «قصه خوانـی گپ» او « هغه دغه » (۲٦) دحکایوی نثرد ښو نمونو په لړی کی دیادونی وړدی . دنظم په برخه کی دمولوی صالح محمد خان هوتك (۱۳۳۹ هش مړ) له خوا دمثنوی دځینو حکایاتو ترجمه (۲۷)

دصوبه سرحددضلع کوهاټ دتحصیل هنګو داوسیدلی مولوی عبدالجبار بنګښ (۱۳٤٥ش حدودمړ) له خوادمثنوی معنوی منظومه پښتو ترجمه (۲۸) اویاهم د مرحوم استاد الفت (۱۳۵٦ ش مړ) په غوره اشعار (۲۹) کی دمثنوی معنوی دیوه حکایت منظومه ترجمه په معاصر ادب کی دزړو حکایوی فورمونو دژوندی ساتلو ډیری ښې نمونې دی .

دغه رنګه زموږ ځوان لیکوال ښاغلی رفیع دپښتو ځینی شفاهی قصی داولسی شاعری په ځینو قالبونو کی داولس په ژبه نظم کړی، اوله دغو قصو څخه یی یوه کوچنوتی مجموعه جوړه کړی ده (۳۰) .

له لوړه اجمالی بحثه څخه زما مقصد دا دی ،چی زموږ په ژبه کی دقصو او افسانو مختلف انواع دادب په شفاهی او تحریری اشکالوکی لیدل کیږی . اوحتی په معاصر ادب کی هم دغه زاړه روش ته میلان موجود دی، اوزموږ ځینو ښاغلو لیکوالو او شاعرانو زاړه شراب په نویو جامونوکی په داسی ډول اچولی چی کیف او خماریی د معاصر ادب له ټولو تجارتی لیکنو او شعرونو څخه ډیراو معیاریی دادب ،هنراو ښکلا پوهنی لپلوه لوړدی .

د «قصی او افسانی» دغه کوچنوتی مجموعه هم زموږ په اوسنی ادب کی دحکایوی فورم دیوه با ارزښته اجتماعی اوهنری اثرپه توګه دیادونی وړمقام لری اوددغی لړی یوه کړی ده. زه اوس ددغه اثرمعرفی او ارزښتونه په لاندی ډول لیکم :

(۱) داثر پیژند ګلوی :

دغه اثر چی شاعریی ورته د «قصی او افسانی» نوم خو ښ کړی دی، ټولی یوولس وړی منظومی کوچنی قصی پکی تر دغو سر لیکونو لاندی خوندی دی :

«نقاش – ۷۳ بیته ، نیشه موږک –۵۳ بیته ، شکمنه مینه – ۵۲ بیته ، وری اولیوه – ۳۲ بیته ، دری غوښتنی – ۵۳ بیته ، تقلب – ۲٤ بیته ، لیوه – ۳۲ بیته ؛ زوړحمام – ٥٤ بیته ، ویش – ۲۸ بیته ، دعشق افسانه – ۱٤ بیته ؛ انسان اوشیطان – ۲۰ بیته ؛ چی په دی حساب یی دټولو بیتونو شمیر ٤۲٥ بیتوته رسیږی .

(۲) داثر شکل او مضمون :

کله چی په معاصر ادب کی څیړونکی هنری او ادبی آثار

تر څیړنې او کره کتنې لاندې نیسي، دنویو اصولو او کړنلارو پر بنادې ته اړو ځي، چې داثر محتوی دشکل اومضمون دواړو له پلوه تحلیل او وڅیړي، ددغه اثر په باب د تحقیق په لړ کې دې ته اړیم چې دغه اثر دشکل اومضمون له پلوه ښه پسې وپلټم :

الف، دشکل له پلوه :

که دشکل له پلوه دمنظومو حکایو دغه مجموعه دکلاسیکو شعری فورمونو په تله وتلو، نویې شکل مثنوی (دوه ییز) دی، چې زموږ په لیکنې ادب کې پراخه ونده لرې اود پښتو ډیر حکایوی ،دینی ،تاریخی اونور کتابونه په دغه فورم کې نظم شوی دی ، اود پښتو دقدیمو لندو کتابې مثنویاتو په چوکاټ کې یې موږ په لرغونې ادب کې د مهین د تذکرة الابرار له قصو سره اندو لولای شو اوپه معاصر ادب کې یې په ځانګړې کتابې شکل بل اندول ماته نه دی معلوم ،البته دمثنوی په قالب کې واړه حکایات په متفرق شکل په اوسنی ادب کې ډیر دی، خوداچې د«قصې او افسانې» دمجموعې ځانګړنې دی ولړی په دی برخه کې زه بل ساری ورته نشوای پیدا کولای .

که چیرې له کتابې شکله تیر شو،اودخپلې اولسی شاعرۍ د اصنافو په چوکاټ کې یې مطالعه کړو، نوبیاد دی مجموعې ټولې قصې او افسانې داولسی داستان یادپیښوریو ځینو پښتنو په اصطلاح د «بدلې» په فورم کې ویل شوی دی ، چې دغه فورم خو راز وړدی، اوله آریایی ادبیاتو سره یې په نښتون کې دشک اوتر دید لپاره هیڅ دلیل نه لیدل کړی .

ب ، دمضمون له پلوه :

دمضمون له پلوه ددې مجموعې ټول اشعار دیوه عاد ی لوستونکی لپاره په لومړنۍ نظر کې دځو لندوفو لکلوری منظومو قصو په بڼه ځان ورڅر ګندوی ،خوکه دادبی کره کتنې داسالیبو له نظره وکتل شي، اومحتوی یې په هر اړخیز شکل ترڅیړنې لاندې ونیولی شي ، نو باید ووایو ،چې دغه افسانې تشې زړې قصې نه دی چې دشلمې پیړۍ یو شاعر را ولاړ شوی، او هغه یې یاله کتابو اویاهم داولسی روایاتو له مخې نظم کړی ، او داد ی ټن په کتابې شکل دپښتو داوسنی ادب دیوه غوره اثر په توګه دپښتنې کلتوراو ادب علاقمندانو اومینانوته وړاندې کیږي، دا موضوع دومره ساده نه ده، ځنګه چې د دغه اثرفورم اوشکل

په ادبی اوهنری لحاظ ځینی خاصی ښیګنې اومزا یا وی لری، دغه رنګه یې په مضمون کی هم دغه ډول متره شته .چې ځینی عمده اجتماعی، اخلاقی اوحتی سیاسی اوپه ټولنه کی نابرابر اقتصادی پروبلمونه پکی دننه ورځی دیوه متعهد شاعر له وظایفو اودوخت اوخلکو له غوښتنو سره سم رانغښتل شوی دی .

ددغه اثر هره قصه او افسانه په یوه ، اجتماعی نتیجه بناکیږی ، اودا دشاعر خپل ابتکار دی، چی زړو مضامینو ته یی دبیان اوشرح داسی شیوه غوره کړی ده، چی دشاعر دخپل فکر مجری هم تری له ورایه څرګندیږی اوسر بیره پردی دزمانی له تقاضو سره سم یی نوی رنګ اونوی خوندهم ورته ورکړی دی .

داثر له محتوی څخه څرګندیږی چی ددغو افسانو په نظمولو کی شاعر دیوه مترجم اویا ناظم حیثیت نه لری ،چی لکه پخوانی یا اوسنی ځینی شاعران او ناظمان یوه موضوع یایو فولکلو ر ی روایت ترجمه اویا رانظم کړی، بلکه زموږ شاعر هغو زړوقصو، افسانو او کلیو الی روایاتو ته نوی ساورکړی، او په داسی ادبی او هنری پیرایه یی بیان کړی چی زموږ دځوانی پښتو شاعری له عمومی محتوی اوجریانه سره هم دشکل اوهم دمضمون له پلوه اوږه په اوږه ځی،او داجتماعی ریږو او دژوند دبیلابیلو خواو ودا نځورولو له پلوه داوسنی پښتو ادب داجتماعی اوهنری ادبیاتو په لومړی صف کی ددریدلو حق لری . له کومو نو پښتو نو څخه چی شاعر ددغه اثر دشکل ا و مضمون د ښکلی کولواو اجتماعی کولو په برخه کی کار اخیستی، هغه به یی دارزښتو نو دځرګندونی په بحث کی وڅیړل شی .

(۳) ددغو قصو او افسانو مآخذ :

دشرقی ژبو په حکایوی منظومو اومنثو روزیاتړو فورمونو کی مؤلفینو اوناظمانو خپل مآخذ ښوولی دی، او هر حکایت چی یی له کومه کتابه را اخیستی نویی د کتاب نوم اوحتی مولف هم ښوولی دی. دغه روش په ځینو پښتو حکایو کی هم راغلی دی، لکه مهین (۱۱۲۷ هـ ق حدود)چی دشیخ فریدالدین عطار له الهی نامی څخه درابعی اوبکتاش قصه په پښتو نظم رااوړله نو یی د خپل مآخذ یادونه په دی ډول کړی ده :

په خپل مراد دی رسیدلی شیخ عطار دلی ویلی
یا لکه مسافر مروت (۱۳۲۰ هـ ق حداد) چی ویلی وو :

یووسم

خدای دي دی وبخښی هم د ده مور پلار
سنایی نه مقتبس سو مسافر
(دمسافر خطی دیوان)

عمران پیښوری (۱۹۰۰ ع حدود)چی له مثنوی معنوی څخه دبندی طوطی اوسوداگر قصه په پښتو نظم کړی ده په پای کی یی ویلی دی:

هغه محمد عمران دی خفه له خپل جانان دی
مقام می دبهادر کلی په مومندو کی څرکند ابیات می لری خوند
مثنوی کتاب می وروره هغه ورځ کتلو گوره
طوطیان چی وولـه شوره

لیدلی می پکی هم دطوطیانو دغه باب و عجب سوال وجواب و
مرحوم صالح محمد هوتك چی دمثنوی کوم حکایتونه په پښتو نظم اړولی ، هرځای یی خپل مأخذ ښوولی دی، لکه :

حکایت دمثنوی د ی روایت دمولوی دی

اما په ځینو نورو حکایوی آثاروکی دحکایی دمأخذ نوم نه لیدل کیږی ، دپښتو او پارسی په ځینو دغه ډول آثاروکی له دی روش څخه هم کار اخیستل شوی دی، لکه میر حسینی هر و ی (۷۱۸ هق مړ) چی دطرب المجالس په ځینو حکایو کی کښلی دی: «درکتابی دیدم که یکی از علمأ نزدیك ... » (۳۱) .

یالکه ملااحمدجان دمردانی چی ویلی دی :

راویان گوهرسنجان داخباراتو دگلزار دمعانی دنادراتو

اویاهم استاد الفت مرحوم چی دمثنوی یو حکایت په غوره اشعارکی را اخیستی پیل یی داسی ورته کړی دی :

اوریدلی می قصه له راویانو که یی اوریځ ای دعقل خاوندانو

لوړ مثالونه ماددی لپاره ورکړل چی ځینو لیکوالو او شاعرانو دیوی حکایی په لیکلو یا نظمولو کی خپل مأخذ ښوولی او ځینو نه دی ښوولی، دغه دواړی طریقی په پښتو او پارسی او نورو شرقی حکایو کی لیدل کیږی .

زموږ شاعر هم له دوو دریو افسانو پرته چی د روایاتو منشأ او یا مأخذ یی پکی ښوولی، دنورو افسانو په نظم کی یی تول کارپه روایاتو بنادی ، اوالبته دغه کار زیاترو حکایه لیکونکو کړی اوجایز عمل ګڼل کیږی، شاعرخپل اوریدلی روایات د شعر په رنګینو الفاظو ښکلی کړی، او په پښتو اوسنی ادب کی یی د زاړه اویا کړنی ادب زړی بولګی په نوی رنګ رنګولی دی .

مازیارایستلی چی له خپلی وسی سره‌سم ددغه اثرد ځینو قصو د اصل او منشأ په باب څیرنه وکړم،اوپه لاندی توګه یی ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړم :

(۱) زماپه عقیده اودمحترم شاعر دخپلو یادونو له مخی د « نقاش، لیوه ، د عشق افسانه » ترسر لیکونو لاندی راغلی قصی‌اوافسانی‌له اروپایی‌حکایوی ادب‌او فولکلور څخه اخیستل شوی‌اودنړی ددغی‌سیمی‌په شفاهی اویاکتبی روایاتو پوری‌اړه لری.دغه ډول‌حکایوی‌تبادلی‌دشرق‌اوغرب ترمنځ‌ډیری‌شوی‌دی، زموږ ډیرو حکایوی فورمونو د غربیانو په فولکلور او حکایوکی ځای نیولی اوځینی حکایی بیاله غربه شرق ته راغلی، اوکله‌کله داسی هم‌شوی دی‌چی‌شرقی قصه غرب ته تللی اوبیابیرته له غربی منابعو څخه دشرق په ژبو ژباړل شوی او دشرقیانو په حکایوی ادب‌کی‌یی د غربی‌قصو اوحکایو په نامه ځای‌نیولی دی، دا دتحقیق یوپه زړه‌پوری باب‌دی،اودخیړونکو پام‌ځانته را اړوی.

(۲) هغه قصی او افسانی‌چی په اولس‌کی په روایی اوشفاهی شکل له لرغونی زمانی مشهوری دی، خوله دی‌سره سره یی تحریری اشکال په ځینو کتابوکی هم‌موندل کیږی ، ددغه اثر لاندی افسانی دغه خصوصیت لری :

الف ، نیشه موږك : دغه ډول‌قصه د «ګربه وموش »(۳۲) په نامه دعبیدزاکانی (۷۷۱یا۷۷۲هـ ق مړ) په کلیات کی هم راغلی ده، چی دموضوع‌په لحاظ زموږ ددغی مجموعی له د غی افسانی سره اړخ لګوی ، او څوبیته یی دادی :

ای خرد مند عاقل‌دانا
قصهٔ موش وګربه برخوانا
قصهٔ موش گربهٔ منظوم
گوش کن همچو در غلطانا
از قضای فلك یکی گربه
بود چو اژدها به کرمانا
شکمش طبل و سینه اش چو سپر
شیر دم و پلنگ چنگانا
از غریوش به وقت غریدن
شیر درنده شد هراسانا
سر هر سفره چون نهادی پای
شیر از وی شدی گریزانا

روزی انـدر شیـرا بخانـه شـدی
از بـرای شـکـار مـو شـا نـا
در پـس خـم مـی نـمـود کـمـیـن
همچـو دزدی کـه در بیـا بانـا
نـاگهـــان مـوشکـی ز دیـــواری
جست بـر خم مـی خـرو شـانـا
سر به خم بر نهاد ومی نـوشیـد
مسـت شد همچـو شـیر غـرانـا
گفـت کـو گر به تا سرش بکـنـم
پوستـش پـر کـنم ز کـا هـا نـا
گـر به در پیش من چو سگ باشد
کـه شود روبـرو بـه مـیـدانـا

ب، وری اولیوه : په لیکلو حکایوی ادبیاتو کی دغه حکایه دایسپ حکیم په قصو کی راغلی ده.دایسپ‌حکیم قصی د نـړی په ډیرو ژبو اړول شوی دی ، اوپه پښتو ژبه دغه قصی هانری جارج‌راورتی ترجمه کړی. د ده د دغی پـښـتـو تـرجـمـی پـــه حکایاتو کی‌هم‌دغه افسانه راغلی‌ده،چی‌د«لیوه‌اووری»سرلیک‌لری ، او ددغو قصوپه پښتو منثوره ترجمه کی ددغه حکایت پیل‌په دی الفاظو شوی‌دی :«هغه وخت‌چی‌یو لیوه په سرد یوی چینی اوبه چنبلی یووری اواره شو ی ولیده ،چی څخولری ، په پای دچینی یی په اوبه کی پنانکی وهلی ، نورله ځانه سره‌یی نیول د د ی مقرر کړه، په فکر شه چی بهنه دپاره دظلم‌جوړه کړم ... »(۳۳)

دحکایاتو هغه مجموعه چی د «لقمان‌حکیم» (۳٤) په نامـــه په پارسی ژبه په کابل‌کی‌چاپ‌شوی‌ده ، دمجموعی لومړی حکایت د «گرگ‌وبره» سرلیک‌لری، اوهمدغه ددې مجموعی دلیـوه او وری افسانه ده .

ج، تقلب : دغه قصه په تحریری ادبیاتو کی دامیر خسر و دهلوی (٦٥١ ـ ۷۲۵ هق) په مطلع الانوار (٦۹۸ هق تألیف) کی تردی عنوان لاندی راغلی ده : «حکایت آب ریختگی شیر ـ فروش وآب بردگی رمه‌وی » چی دپیل څوبیته یی دا دی :

داشت شبانی‌رمه درکهسار پیرو جوان‌گشته ازو شیرخوار
شیر که‌از بز به سبو ریختی آب در آن شیر در آمیختـی
بردی ازآن آب ملمع به شیر نقرهٔ چون‌شیر زبر ناو پیـــر
روزی‌ازآن‌کوه به صحرای‌خاك سیل درآمدرمه رابردپاك (۳۵)

مازیارایستلی چی له خپلی وسی سره‌سم ددغه اثرد ځینو قصو د اصل او منشأ په باب‌خپرنه وکړم،اوپه لاندی توګه یی ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړم :

(۱) زماپه عقیده اودمحترم شاعر دخپلو یادونو له مخی د « نقاش، لیوه ، د عشق افسانه » ترسر لیکونو لاندی راغلی قصی‌اوافسانی‌له اروپایی‌حکایوی ادب‌او فولکلور څخه اخیستل شوی‌اودنړی ددغی‌سیمی‌په شفاهی اویاکتبی روایاتو پوری‌اړه لری.دغه ډول‌حکایوی‌تبادلی‌دشرق‌اوغرب ترمنځ‌ډیری‌شوی‌دی، زموږ ډیرو حکایوی فورمونو د غربیانو په فولکلور او حکایوکی ځای نیولی اوځینی حکایی بیاله غربه شرق ته راغلی، اوکله‌ـ کله داسی هم‌شوی دی‌چی‌شرقی قصه‌غرب ته تللی اوبیابیرته له غربی منابعو څخه دشرق په ژبو ژبارل شوی او دشرقیانو په حکایوی ادب‌کی‌یی د غربی‌قصو اوحکایو په نامه ځای‌نیولی دی، دا دتحقیق یوپه زړه‌پوری‌باب‌دی،اودخپرونکو پام‌ځانته را اړوی.

(۲) هغه قصی او افسانی‌چی په اولس‌کی په روایی اوشفاهی شکل له لرغونی زمانی مشهوری دی، خوله دی‌سره سره یی تحریری اشکال په ځینو کتابوکی هم‌موندل کیږی ، ددغه اثر لاندی افسانی دغه خصوصیت لری :

الف ، نیشه موږك : دغه ډول‌قصه د «گربه وموش »(۳۲) په نامه دعبیدزاکانی (۷۷۱یا۷۷۲ه ق مړ) په کلیات کی هم راغلی ده، چی دموضوع‌په لحاظ زموږ ددغی مجموعی له د غی افسانی سره ارخ لګوی ، او څوبیته یی دادی :

ای خرد مند عاقل‌دانا
قصهٔ موش وگربه برخوانا
قصهٔ موش گربهٔ منظوم
گوش کن همچو در غلطانا
از قضای فلك یکی گربه
بود چو اژدها به کرمانا
شکمش طبل و سینه اش چو سپر
شیر دم و پلنگ چنگانا
از غریوش به وقت غریدن
شیر درنده شد هراسانا
سر هر سفره چون نهادی پای
شیر از وی شدی گریزانا

روزی اندر شیرا بخانه شدی
از برای شکار موشانا
در پس خم می نمود کمین
همچو دزدی که در بیابانا
ناگهان موشکی ز دیواری
جست بر خم می خرو شانا
سر به خم بر نهاد ومی نوشید
مست شد همچو شیر غرانا
گفت کو گربه تا سرش بکنم
پوستش پر کنم ز کاهانا
گربه در پیش من چو سگ باشد
که شود روبرو به میدانا

ب، وری اولیوه : په لیکلو حکایوی ادبیاتوکی دغه حکایه دایسپ حکیم په قصو کی راغلی ده.دایسپ‌حکیم قصی د نړۍ په ډیرو ژبو اړول شوی دی ، اوپه پښتو ژبه دغه قصی هانری جارج‌راورتی ترجمه کړی. د ده د دغی پښتو ترجمی په حکایاتوکی‌هم‌دغه افسانه راغلي‌ده،چی‌د«لیوه‌اووری»سرلیك‌لری ، او ددغو قصوپه پښتو منثوره ترجمه کی ددغه حکایت پیل‌په دی الفاظو شوی‌دی :«هغه وخت‌چی‌یو لیوه په سرد یوی چینی اوبه چنبلی یووری اواره شو ی ولیده ،چی څخولری ، په پای دچینی یی په اوبه کی پنانکی وهلی ، نورله ځانه سره‌یی نیول د د ی مقرر کړه، په فکر شه چی بهنه دپاره دظلم‌جوړه کړم ... »(۳۳)

دحکایاتو هغه مجموعه چی د «لقمان‌حکیم» (۳٤) په نامه په پارسی ژبه په کابل‌کی‌چاپ‌شوی‌ده ، دمجموعی لومړی حکایت د «گرگ‌وبره» سرلیك‌لری، اوهمدغه ددې مجموعی دلیوه او وری افسانه ده .

ج، تقلب : دغه قصه په تحریری ادبیاتوکی دامیر خسر و دهلوی (٦٥١ ـ ۷۲۵ هق) په مطلع الانوار (٦۹۸ هق تالیف) کی تردی عنوان لاندی راغلی ده : «حکایت آب ریختگی شیر ـ فروش وآب بردگی رمۀوی » چی دپیل څوبیته یی دا دی :

داشت شبانی‌رمه درکهسار پیرو جوان‌گشته ازو شیرخوار
شیر که‌از بز به سبو ریختی آب در آن شیر در آمیختی
بردی ازآن آب ملمع به شیر نقرۀ چون‌شیر زبر ناو پیر
روزی‌ازآن‌کوه به صحرای‌خاك سیل درآمدرمه را بردپاك (۳۵)

د ، ویش : دغه افسانه مولانا جلال‌الدین محمد بلخـــی په مثنوی معنوی کی راوړی ده، اوهوری یی سرلیك دا دی : «رفتن گرگ و روباه درخدمت شیر به شکار ...و امتحان کردن شیرگرگ را گفتن که این‌صیدها راقسمت کن» د دی حکـایـت پیل په مثنوی کی‌داسی شوی دی :

شیر وگرگ‌وروبهی‌بهر شکار رفته بودند ازطلب درکهسار
کان‌سه باهم‌اندران‌صـحرای‌ژرف صیدهاگیرند بسیاروشگرف
تابه پشت‌همد گراز صید هـا سخت‌بربندند بازوقیدها (۳۶)

دغه حکایت مولوی احمد دتنکی په گنج پښتو کی په خـواړه نثرپښتوکړی هم‌دی، اود دغه کتاب (گنج‌پښتو) پنځه ځلویښتم حکایت د «قصی او افسا نی » د «ویش» افسانه ده. مولوی‌احمد د دغه حکایت پیل په گنج پښتو کی په دغو تکـو کـړی دی : «زمری‌اوسرمښی اولونبړه یوه‌ورځ‌جمع‌شول، نوپه ښکار روان شول، ناگهانه یوگاوزیوه هوسی اویوه‌سویه په‌لاس ورغلل..» (۳۷)پوهاندر ښتین په «پښتوقصی» نومی اثر کی‌د«داویش دی له چانه زده کړ؟»ترسر لیك لاندی د روایاتو په ډیر لږ اختلاف هم دغه قصه راوړی ده (۳۸)

فاضل استاد پوهاند ر شاد د«قصص وتمثیلات مثنوی » په حواله کښلی دی چی : «دغه نکل دراغب اصفهانی په محاضرات الادبا ومحاورات الشعرأ واللغأ دابوالفرج عبدالرحمن ابـــن جـــوزی (۵۱۰ـ۵۹۷هق) په کتاب‌الاذکیأ دسعدابی په نـشـرالـــدرر او فوایدالسلوك کی راغلی دی ».

په همدی اساس موږهم داویلای شو، چی ددغه اثر «قصی او افسانی »دهغو افسانو کتابـــی ماخذونه چی لوړ وښوول‌شـول ښایی دشرقی ژبو په نورو حکایوی اوقصصی کتابوکی هم‌راغلی وی،چی‌البته مادموضوع د اوږدوالی د مخنیوي لپاره صرف‌پـه لوړو یادو شوو ماخذو اکتفاو کړه، اوپه نورو کتابوکی می ونـه پلټل .

(۳) پرشفاهی روایاتو بنایازمونږ فولکلوری آفسانی:ددغـــه اثر دری افسانی: «دری غوښتنی ، زوړ حمام ، انسان او شیطان» ماته زمونږ له شفاهی ادبه زیږنده اوله افغانی فولکلور سبـره اړیکمنی ایسی ، اودا ځکه چی: د«قصی او افسانی» د« دری‌غوښتنی»افسانه استاد محمدگل نوری مرحوم (۱۳۵۲ه ش مـــړ) په خپلو راټولو کړو فولکلوری وړوتوکی قصو (خونږبانـــډار) نومی مجموعه کی په دی بنه ضبطکړی ده: «یوطالب‌وسبق‌یـــی

نه زده کیدئ نورهی سوولار... له چی مطالعه می خلاصه سی ؛ د... پر زیارت یی لس کاله تیر کړه. طالب ته خورا دردورغلی دی، په دغه انتظار کی دی چی اوس به ږغ را باندی وسی چتی به می مهرکی اوس به یی وکی ...» (۳۹) ددغو دواړو کتابو (قصی او افسانی ـ خوږ باندار) قصه یوه ده ، مگر په روایاتو اود انتظارپه موده کی فرق سره لری . استاد نوری یی دانتظار موده هرځل لس کاله ښوولی اوقصه یی په طالب پوری جوړه شوی راوړی ده، مگر دقصی او افسانی محترم شاعر دغه قصه دیوه لرگبه ښوولی، اوهرځل یی د پیرد مراقبی موده دری کاله ښوولی ده . دغه رنگه د «زوږ حمام» قصه زموږ دهراتی ورونو استاد مایل هروی ، او محترم فکرت دوینا وولـه مخی دهرات دخلکو په فولکلور او شفاهی ادب کی شامله ده، او دوی وایی چی دغه متل یا اصطلاح «همه گرد پااند» دهمدغی افسانی زیږنده ده، اویادغه افسانه ددغی اصطلاح یامتل عامیانه فلسفه یا تعبیر دی ، او ضبط شوی شکل یی دفولکلوری افسانو په مجموعو کی مانه دی پیدا کړی .

همدا ډول د«انسان‌اوشیطان» افسانه هم زموږ له اولسی او فولکلوری قصو څخه کنډ کیدای شی ، چی منشأ یی زموږ عام‌خلك او اولس‌دی، اوپه ځینو سیمو کی دغه افسانه په روایتی ډول شته .

له لوړی تشریح سر بیره ددی خبری یادونه هم ضرور ی بولم چی: ښایی دریمه کتله گوری افسانی ـ چی ماد اولسی او شفاهی روایاتو محصول‌یاممثل‌و بللی‌ـ په ځینو حکایو‌ی او قصصی قدیمو کتابو کی هم راغلی وی، چی متأسفانه زه نه یم پرپیښ‌شوی، او سملاسی می دهغو دمنشأ لپاره دشفاهی قصو تعبیر غوره وبالـه .

(٤)ددغه اثر یوه بله افسانه د «شکمنه مینه» عنوان‌لری، او زموږ شاعریی پیل داسی کړی دی :

د لرغونی زمانو په افسانو کی * د بخدی په اوسنیو ویرانو کی
راته کړی‌یو بزگرسړی‌قصه ده * دیوښکلی‌ژوندغمجنه افسانه ده

ماته ددی قصی اصل نه رامعلومیږی ، ښایی قدیم روایت ولری ، اودغه رنگه ددی افسانی دمنشأاویاهم دنظم د اساسی محرك په باب زمابل گمان دادی ، چی‌زموږ شاعردی دایرج‌میرزا (۱۲۹۱ ـ ۱۳٤۳هق) دکلیات دمثنویاتو دبرخی د« هدیهٔعاشق» دمثنوی تراغیزی لاندی دغه افسانه نظم کړی‌وی، او لکه

څنګه چې ددغه اثر دقصو په نظمولوکې دشاعر عمومي خاصه دا ده‌چې خپل‌محیطي عناصر په قصه کې‌داخلوي، او دافسانې دچاپیریال اوکردارونو په‌ښوولو کې‌د خپلومحیطي، ټبنتنې او افغاني خصوصیاتو ځایولو ته رجحان ورکوی . نوښایې دایرج میرزا هماغه مثنوی ته (چې په دی بیت پیلیږی):

عاشقي محنت بسیار کشید تالب‌دجله به معشوق رسید (٤٠)

د«شکمنه مینه » تر سرلیك لاندی خپله وطني او محیطي بڼه ورکړی‌وی، په‌موضوعي لحاظ هم‌د محترم لایق د قصې او افسانې‌د «شکمنه مینه» افسانه اود ایرج‌میرزا د « هدیهٔ عاشق» مثنوی ورته والی سره‌لري ، اما بیاهم زه‌په خپل دغه استنباط تینګ نه‌یم ښایی زه په دوهمه نظریه‌کې تیروتی وم اویا ښایی همداسی وی ؟

ماله خپل وس سرسم ددغه اثر دمأخذو او منشأ په باب دغه لوړه ناقصه څیړنه وکړه، چې‌ښایی ډیری‌کمبوتې ولري ، خوهیله ده‌چې د اثرتر خپریدو وروسته به زمونږ ځوان څیړونکې ددغه اثر په باب خوندوری او ګټوری څیړنې وکړی ، او زما نیمګړتیاوی به رفع کړی .

ددغه اثر ارزښتونه

زمونږ په پښتو اوسنی تخلیقي اوهنری ادبیاتوکې لر اوبر دمنثورو اومنظومو آثارو ډیری مجموعې چاپ شوي دي، اولابه چاپیږی ، مګر زما دخپړنې او مطالعې له‌مخې له‌دغو آثارو څخه هریو دیوه خاص قشر دمطالعې‌اود لچسپي وړګڼې او باسواد پښتانه ګرده علاقه نه ور سره ښیي ، زما په شخصي زعم د «قصې‌اوافسانې»دغه کوچنوتې مجموعه دپښتو په منظوم‌تخلیقي ادب‌کې یوداسې برجسته اثردی چې ښایی لوستل به یې دسواد دخاوندانو ټولو پښتنوله پاره له ابتدایي سویې نیولې تر لوړو سویو پورې بې ګټې اوخسته کن نه‌وی، او دغه‌متره پکې‌شته چې‌هر لوستونکی‌دیوه ساعت لپاره مصروف وساتي ،او دانګانګړ نه ددغه اثر ابتکاری او ګټور اړخ دی .

ددی اثر‌بله ښېګڼه داده، چې ټولې‌افسانې یې‌که له خارجي ادبیاتو اخیستل شوی او یاله شرقي کتبې‌ادبه ـ په محیطي اصطلاحاتو ، محاورو او تعبیراتو پسول شوی، اوټولو افسانو

ته کابو دپښتنی فولکلوریك ادب رنـــگ ورکړل شوی دی .
دکتاب دارزښتونو دښوولو په ترڅ کی داخبره هم د هیرولو نه ده ،چی زموږ شاعر په **دغه کوچنوټی مجموعه کی صرف دانه** دی کړی چی څو حکایی له کتابو اویاله شفاهی روایاتو څـــخـه دشعرپه چوکاټ کی‌راونغاړی، بلکه د ده‌ددغو اشعارووتر ټولو مهم خصوصیت دادی‌چـی هـره افسانه یی په یـوه اجتماعـی نتیجه بناکړی، اوپه هره قصه کی دشاعرفکری سیرپه غـور ـ ځنګ دی، اودهری افسانی‌په نظم کی‌یی له ادبه څخه د دغـه عصر غوښتنی له پامه نه **دی غورځولی اوپه داسی مهارت یی** خپل فکری‌او بشری **احساسات پکی ځای‌کړی‌چی دافسانی اصلی** ماهیت‌هم پکی‌خوندی ساتل‌شوی‌دی. البته دده په ټولو آثـارو کی‌انسان او انسان‌دوستی ،له خپلو خلکو او وطـن ســره دزړه مینه ، په **خپلو ملی ،تاریخی او وطنی افتخار اتو ویاړنه ،** دبیوزلو شپنو، او اوښبنو د ژوند انځور په ډیره سلیسه اوعام فهمه ژبه بیان شوی دی، ددی لپاره چی‌دده د آثارو اوخصوصاً ددغه اثر دارز ښتونو په **ښوولوکی زماخپل شخصی قضاو ت** ډیر دخل ونه لری، **نوغواړم چی دپښتو ادبیاتو ددوو استادانو** نظر دمحترم لایق د آثارو او افکارو په باب دلی راوړم :

(۱) لوی استاد پوهاند **عبدالحی حبیبی دده دآثارو افکارو** په باب کښلی دی : «... **ښاغلی سلیمان لایق دخاص استعداد** اوادبی‌ذوق خاوند دی اودده نوی کلام دپښتو شعردنوی‌غورځنګ شمله ده هم فکری ښکلا لری، اوهم د فورم اوآهنګ په ایجاد ګړندی ښکاری. **لایق‌لکه نوی زلمی چی‌دی افکاریی هم‌زلمی‌دی،** کوم هیجان ،کوم **تلاطم اوغور ځنګ او نخاچی دده‌په اشعاروکی** داورنیو احساساتو سره ښکاری ، دده دشعر او نوی فـــورم او آهنګ‌سره اوږه‌په اوږه ځی‌اوزه داسی ګمان کوم چی د آرامـو زړو او آرامو احساساتو خاوندان به‌هم له خپله شعره ســره خوځوی ، اوپه خپله شعری نخاکی به‌یی له ځانه سره **ملګری** کوی ... » (٤١)

(۲) استاد بینوالیکلی دی:«لایق‌دپښتو اودری ژبـــو په اوسنیو لیکوالو اوشاعرانو کی‌خورا پوخ‌لیکوال او حســاس شاعر دی ، چی‌د ده په شعر اونثر کی بشری عواطف، انسانـی جذبات،او افغانی دردونه‌دژور احساس په رونا کی‌پـه ښـه **توګه ځلیږی** ، په تیره **بیاچی دده لیکنی‌او شعرونه دنـــو ی** ادب‌نوی‌بڼه لری، اوپه نوی‌طرزنوی مطالب‌په ډیرو خـونـدو ـ

رو عباراتو کی بیانوی . دده‌دلیکنو اوشعرونو زیاته برخه د بشری اودخپل محیط‌داجتماعی انعکاساتو اودردونو هینداره ده...»(۴۲)
ددواړو استادانو نظریی دښاغلی‌لایق دآثارو او اشعارو په باب صادقی دی، اوپه دغه کوچنوتی رساله کی‌یی هم عوامـــی او لرغونی افکارپه نوی او اجتماعی روحیه بنا بیان کړی د ی ، چی هم اجتماعی رنگ لری اوهم هنری او ادبی خونـد .

د پښتو ادبیاتو دتاریخ پوهان دقصوپه پیل کی دواړه او لنډ ادبی‌تمهیدایښوول‌او بیاد اصلی‌قصی خواته هڅه کول‌دقصه والو اوداستانسراشاعرانوپه حسناتواوهنرکی‌شمیری(۴۳)له نیکمرغه ددغه اثر تولی افسانی او قصی دغسی لنډ خوډیر هنری‌او ادبـی تمهیدونه لری،چی‌د دغه اثر ارزښت په ادبی او هنـری لحاظ ډیر لوړ ځرگندوی .

ددغه اثرداشعارو بله عمده‌اوخاصه ځانگړنه دعالی تخیل‌درلودل دی‌هره افسانه یی په یوه فوق‌العاده لوړ اجتماعی او هنری تخیل پسوللی شوی ده . دادب منقدین‌وایـــی :«دتـــولونه ډومبی او ضروری شی‌چی شاعراوغیرشاعرسره بیلوی‌قوت متخیله یاتخیل (Imagimatian) دی ، وایی داقوت چی‌په شاعر کی ځومـــره زیات وی‌هغه هومره به دهغه شاعری د اعلی درجی وی...»(۴۴)

نوځکه زه په زغرده داویلای شم چی د «قصی او افسانـی» د اثرتولی افسانی په هنری، اجتماعی، ادبی او د شاعـــرانـــه تخیلاتو، اوله نننی ادب نه دخلکو غوښتنو ته دځواب برابرولو له پلوه دکره کتونکو او ادبی نقادانو هرډول پوښتنوته ځواب ویلای‌شی، سربیره پردی شاعر په‌خپلو ځینو افسانو کی ځینی خاص لهجوی تعبیرات او محاوری هم راوړی دی،چی ژبپوهان یی هم له مطالعی څخه په خپلو څېړنو کی گټه اخیستلای شـی.

نوټونه او مأخذ :

(۱) فولکلور مجله ، لومړی کال ۲ـ۳ گڼـــه ۱۳۵۲ ش . زمینه های شناخت فولکلور، دښاغلی پویـــا فاریابـــی مقـالـه د پښتو داولسی ادب لاری څېړندوی دوست ۳۹ـ ۴۵ مـــخونه . (۱۳۵۶) ش کال چاپ ـ پښتو تولنه ـ کابل .

(۲) ادبیات از نظرگورکی ص ۲۲۸ ، ترجمهٔ ابوتراب باقرـ زاده طبع ۱۳۴۵ ش تهران .

(۳) مقالات اجتماعی وفلسفی ، از فوکلور تاعلم اجتمـــاع، دپوهاند علی‌محمد زهمالیکنه ، ص ۱۵، د ۱۳۳۹ ش کـــال

چاپ، کابل پوهنتون ـ د ادبیاتو او بشری علومو پوهنځی .
(٤) پښتو چاپی آثار ، ١٤٨ مخ، دعبدالباری جهانی مقاله ، د ١٣٥٧ ش کال چاپ، دپښتو دپیاوړتیا اوپر مختیا امریت ، داطلاعاتو او کلتور وزارت .

(٦) پته خزانه ،د محمدهوتك، ٨٩ ـ ٩٠ مخونه (خطی) داطلاعاتو او کلتور وزارت ، دپښتو دپیاوړتیا اوپر مختیا آمریت افیستی چاپ ١٣٥٤ ش کال، دلوی استاد پوهاند حبیبی له څرګندونو او سریزی سره . (دریم چاپ).

(٧) دعمران پیښوری خطی دیوان ١١٥ ـ ١١٩ مخونه ،ددغه دیوان خطی نسخه د پیښور په پښتو اکیډیمی کی شته او په ١٩٠٢ ع کال لیکل شوی ده ،دعمران پیژندګلوی بناغلی محترم رفیع په دوهم ټوك ادبی ستوری ٢٣٤ ـ ٢٤٢ مخونو کی راوړی ده .

(٨) وګورئ! کابل مجله د ١٣٥٧ کال اکټه په ګنج پښتو کی دمثنوی قصی د فاضل استاد پوهاند رشاد مقاله ٦٨ مخ .

(٩) ددغه کتاب اصلی نوم پرخطی نسخی داسی کښل شوی دی: «مشکل کشای طالبان الموسوم په خزینة السلطان دلکشای عاشقان » ناظم او مؤلف یی قدرت علی هزاروی مشهور په قاضی ګل دی، دغه کتاب منظومی او منثوری برخی لری، او په دووټو کونو کی راټول شوی دی، دپیښور دپښتو اکیډیمی په خطی مجموعه کی په ٥٩٤ نومره ضبط دی .

(١٠) دګنج یاقوت نایاب خطی نسخی دپیښور دپښتو اکیډیمی په خطی نسخو کی محفوظی دی. دتور سم خان ټول حکایوی اونور تخلیقی آثار چی زیاتره د اولسی شاعری په کالبونو کی ویل شوی دی ، په څلور وټو کونو کی خوندی دی ، اوټولوته یی همدا نوم خوښ کړی دی .

(١١) وګورئ ! دپښتو نخوا دشعر هارو بهار ١٢٤ـ١٢٨ مخونه ؛ ١٠٦ـ١١٤ مخونه د١٣٥٦ ش کال د کابل چاپ پښتو ټولنه . (دریم چاپ) اول چاپ پاریس ١٨٨٨ ع .

(١٢) پښتنی سندری دوهم ټوك ١٩٩ ـ ٢٢٥ مخونه ، پښتو ټولنه ١٣٣٥ ش کال ـ کابل .

(١٣) شیخ بستان بریخ، دمقالو په مجموعه کی دشیخ بستان بریخ بدله مقاله ٩٨ ـ ١٢٨ مخونه ،دکلتور اوهنر ریاست د اطلاعاتو رزارت، د ١٣٦٠ ش کال ـ چاپ .

(۱٤) پښتو منظومې قصې د عبدالکریم پتنګ تالیف د ۱۳۵۷ ش کال چاپ ، دغه اثر ښاغلی محمد هاشم رحیمی په انګریزی ژبه هم ژباړلی ، اودپښتو څیړنو دنړیوال مرکز په «پښتو» نومې مجله کې خپور شوی دی .

(۱۵) اخلاقنامه دلوی خان خوشحال خان خټک ناچاپ اثر دی. چې یکی یوه نسخه یې دخان د دستارنامې دهغې نسخې په حاشیه کې کښل شوی، چې د پیښور د پښتو اکیډیمۍ په خطی کتابخانه کې ساتل کیږی ، له ښه مرغه دغه ناویاته متن دګران رفیع لاس ته ورغلی څیړنه پری شوی اوډیر ژر به چاپ شی .

(۱٦) دمهمند تذکرةالابرار یوه خطی نسخه ۳۱۲ مخه د افغانستان په ملی آرشیف کې په ۷/ ۲۲ نومره قیده، اوګران لیکوال ښاغلی رفیع ددغه کتاب پر پیژندنه یوه بشپړه څیړنه د کابل مجلی د ۱۳۵٤ ش کال د ٦ ګنې ٤۳ـ ۵۷ مخونو کې چاپ کړی ده، اوددغه کتاب دقصو په باب یې کښلی دی :«په دی کتاب کې ټولی نه دیر ش لنډی اوږدی داخلاقی او اجتماعی نتیجو لرونکی کیسې راغلی دی، دکیسو سره د بیلتون لپاره دهری کیسې لومړی بیت په سره رنګ کښل شوی دی » .

(۱۷) دتفصیل لپاره وګورئ ! زیری د ۱۳۵۷ ش کال ٤ ګنې دفاضل استاد پوهاند رشاد مقاله

(۱۸) بې نومه قصصی کتاب ۲۲ ـ ۲۳ مخونه .

(۱۹) وګورئ ! تاریخی پلټنې ص ۱۹ ، کابل مجله د ۱۳۵۵ ش کال ۷ ګنه په دواړو مراجعو کې دښاغلی رفیع مقالې دغه قصه (برښنا اوخدی) په ۱۲۰٤ هـ ق کال تألیف شوی ده، تر اوسه نه ده چاپ .

(۲۰) عبدالقادر خان خټک د ۱۱۲٤ هـ ق کال درجب په میاشت کی ددغه کتاب په پښتو ترجمه پیل کړی دی، اوددغه کال دروژی په څلیر پشتمه یی له ترجمې فارغ شوی دی :

زرسل څلیرویشت دسن کلونه * له ګلستانه چې دا ګلونه
ټول شول چې جوړه تری ګلدسته شوه * یادګار به پاتی شی مور به خونه
داکتاب چې ګلدسته د ګلستان دی ګل چینی ده دعبدالقادر خټک
که تاریخ یې داغازد انجام غواړی * سن دهجر په شماره ود «دغق دك»
(ګلدسته ص ۷۱، د ۱۹٦۱ ع کال د پیښور ـ پښتو اکیډیمی خپرونه)

دیادونې وړده، چې دعبدالقادر خان ګلدسته په ۱۹۸۱ ع کال

دوهم ځل بیا د پیښور پښتو اکیډیمی خپره کړی ده .

گلستان سربیره پر عبدالقادرخان ختك امیرمحمد انصاری هم په پښتو نثر ترجمه کړی دی. دغه سړی د ۱۲۰۰ هـ ق په حدودو کی دهندوستان په کلکته کی اوسیده (دپښتو دادب تاریخ، دیوهاند ر بښتین ۸۳مخ ، ۱۳۳۲ ش کال دکابل چاپ) ددغـی ترجمی یوه نسخه په برټش موزیم په ٤٥٠٥ نومره قیـد ده، او ټولی پانې یی ۱۲۹ دی. دنسخی په پای کی کښل شوی دی :

«مترجم این گلستان امیرمحمد بن میرمحمد انصاری عفـی عنهما باتمام رسید، در دارالامارهٔ کلکته سنه ۱۲۲۷ هجـری قدسـی ».

(دمیکنزی فهرست ص ۱۲۷، د ۱۹٦٥ع کال د لندن چاپ)

(۲۱) افضل‌خان بن اشرف‌خان هجری ختك د عیـار دانـش (کلیله ودمنه) ترجمه د ۱۱۲۸ هـ ق کال د صفری تر لومـړی نیټی وروسته پیل کړی، اود ۱۱۲۹ هـ ق دمحرمی په دیار لسمه یی پای ته رسولی ده، دافضل‌خان دغه کتاب بشپړ نه دی چاپ شوی بلکه منتخبات یی پروفیسـور ډورن (۱۸۰۵–۱۸۸۱ع) پـه «پښتو منتخبات» ۱–۲۳ مخونه (لومړی چاپ ۱۸٤۷ع پترز بورگ، دوهم چاپ کابل – پښتو ټولنه ۱۳۵٦ش کال) اوهانری جارج راورټی په گلشن روه (طبع اول هرتفرد ۱۸٦۰ ع) ۸۳ – ۱۱٦ مخونو کی راوړی دی . (دگلشن روه ددریم چاپ مقدمه (داستاد رشاد ، ۳۹ – ٤۰ مخونه) .

(۲۲) دغه کتاب په (۱۸۷۱ – ۸۸ ۱۲ هق کال) دلندن پـه کلبرټ اورنگټین په مطبعه کی چاپ شوی دی ټول مخونه یـی ۲٤۳ ، اوقصی یی ۲۰۲ دی . پردوتنه (وقایه) یی کښل شـوی «قصی دایسپ الحکیم » «په ژبه دپښتو ترجمه شوی دراورټی صاحب بهادر میجر دبمبی حاطی له فوجه د ملکۀزمان» او پـر بله پانه یی انگریزی نوم‌داسی کښل شوی دی :

The fables of Aesop in Pukhtu

(۲۳) کنج پښتو دمولوی احمد (۱۲٦۱–۱۳۰۰ هق) تألیف‌دی ټول ٤۹ حکایات پکی راغلی اولومړی ځل‌پادری هیوز په کلیـد افغانی (۱–۱۲۸ مخونه)کی‌چـاپ کړی‌دی دوه‌ځله مستقـل (لومړی ځل‌لاهور ۱۲۳ مخه ، دوهم پیښور په وړه جیبی قطع) چاپ شوی دی، که د کلید افغانی ټول چاپونه ورسره وشمیرو نودغه کتاب‌تراوسه پنځه ځله چاپ‌دی. سربیره پردی دغـه کتاب Trevar chichele plawden پـه

کی په انگرنری ژباړلی اودکتاب په لومړیو ۱۰۲ مخونوکی چاپ‌شوی دی (لاهور ۱۸۹۳) استاد رشاد کښلی‌دی : چی گنج‌پښتو په چترالی ژبه هم‌ترجمه شوی ، اودغه ترجمه یی په ۱۹۰۲ ع‌کال په کلکته کی‌چاپ شوی ده (کابل مجله د ۱۳۵۷ کال اگنه ٦٥ مخ) .

(۲٤) عبدالغفور قاسمی دملاحسن واعظ کاشفی (۹۱۰ه ق‌مړ) انوار سهیلی پښتوکړی لومړی ځل‌په ۱۹٤۳ ع کال چاپ‌په پیښور کی‌چاپ شوی‌ده .

(۲٥) اروانباد اکبردمثنوی‌معنوی دری دفتره په پښتو ترجمه او تلخیص کړی دی،چی لومړی دوه دفتره یی په یوه ټوک کی د ۱۹۷۷ع کال داگست په میاشت‌کی ٤٦٤ مخه خپاره شوی‌دی .

(۲٦) دمنشی احمدجان «هغه دغه» ۱۹۱ مخه په ۱۹۲۹ع‌کال په پیښور کی چاپ شوی‌دی ، دغه کتاب په پیل‌کی ۷٥ وړی او ټوکی‌قصی ورپسی ځینی‌واقعات اوحکایات هم‌لری، اود قصه ـ خوانی‌گپ ۲۰۰مخه په ۱۹۳۰ع کال‌په پیښور کی‌چاپ شوی دی، حکایی یی‌د «هغه دغه» دلومړی برخی دحکایو په پرتله لویی دی .

(۲۷) پښتو مثنوی دمولوی صالح‌محمد خان کندهاری ۱ـ ۷۹ مخونه ، د ۱۳٥۰ ش‌کال چاپ ، دپښتو دانکشاف ا و تقویی ریاست ، په دغه کتاب‌کی دمثنوی معنوی دحکایاتو پرترجمه سربیره دمولوی‌صاحب نورآثارهم چاپ شوی ، او گرده مخونه یی ۱۰۲دی، په پیل کی‌یی دلوی‌استاد پوهاند ـ حبیبی یواته مخیزه سریزه هم شته .

(۲۸) دمولوی عبدالجبار بنگښی له‌خوا دمثنوی معنوی دغه پښتو ترجمه « اسرار العلوم » نومیږی ،چی په دوټوکو نوکی ترتیب شوی ، لومړی ټوک یی ٤۲٥ مخه اودوهم ټوک‌یی ۱٤٦ مخه دی ،لومړی ټوک په ۱۳٤۲ هق‌کال اودوهم په ۱۹٦۰ ع‌کال دمترجم په‌خپل خط کښل‌شوی، اود پیښور د پښتو اکیډیمی په‌خطی مجموعه کی خوندی دی (زیری د ۱۳٥٦ کال ٤ گڼه دفاضل استاد پوهاند ر شاد مقاله) .

(۲۹) وگورئ ! غوره اشعار دمرحوم استاد الفت ،٥٥ـ ٥۷ مخونه (هوښیار او دنیادار) د ۱۳۳٤ هش کال چاپ ـ پښتو ټولنه ـ دمرحوم استادالفت پردغی له مثنوی‌معنوی نه ترجمه شوی حکایوی مثنوی استاد رشاد دزیری جریدی د۱۳٥۷ش کال

په ٦ ګڼه کی یومقاله کښلی اود مثنوی معنوی له حکایت‌سره یی ددغی حکایی مقایسوی کتنه پکی کړیده .

(۳۰) دښاغلی محترم رفیع دغه اثر «وو، نه وو» نومیږی، تراوسه نه دی چاپ‌شوی ټول مخونه یی ۲٤ اوقصی یی (٥) دی،په پای کی‌یی دعبدالطیف اخکزی‌د اوښ‌اوسوی فولکلوری قصه هم ورسره مله کړی ده .

(۳۱) وګورئ ! طرب‌المجالس ص ۱٦۹ ،د ۱۳٥۲ هـ ش کال دمشهد دپوهنتون چاپ .

(۳۲) کلیات عبیدزا کانی ، ۱٦۹ ـ ۱۷۳ مخونه دتهران‌چاپ، په پښتو ادب‌کی ملانعمت الله نوښاری هم‌د «پشو اومږه» په نامه یوه قصه لری، چی دیره پخوا په ۱۲ مخونو کی دزاړه هندوستان د لاهور په مطبعو کی چاپ شوی‌ده، ددی قصی‌محتوی هم درواياتو په‌اختلاف دعبیدزا کانی له «گربه و مـوش» او ددغه اثر «قصی‌او افسانی»دنیشه موږك له قصی سره ورته والی لری ؛ ځوبیتو نه یی دادی :

دشرابو خم ته وخته اوچته ډیرشراب‌یی وڅښل‌یاره‌له سرعته
په شـرابـو سـره دی چـی کـړ ځـان مـور
په مستی شوه زړه یی خبـروتـه شـه جـور
مـړو وویـل افسـوس دی پـاکـه خـدا یـه
پیشـو نشـتـه دی چـی راشـی تـر دی ځـا یـه
چـی د مـرګ رسـی کـړم زه ورتـه پـه غـاړه
د ژونـدون خـو نـه یـی کـړم د دی ویـجـاړه

(پښتو مـنـظـو مـی قـصـی ۲٥ ـ ۲٦ مـخـونـه)

(۳۳) وګورئ !قصی‌د ایسپ‌الحکیم، دهانری جارج را ورتی ۲۷ـ ۲۹ مخونه .

(۳٤) وګورئ ! لقمان‌حکیم د دکتور حفیظ الله سحر ترجمه ، ۱ـ ۲ مخونه ، د ۱۳٥۱ ش کال دکابل چاپ .

(۳٥) مطلع‌الانوار،د امیرخسرو دهلوی ۱۷٦ـ۱۷۷ مخونه ،د ۱۳٤٤ هق کال دعلیګړ دپوهنتون چاپ، دامیر خسرو ددغـه حکایت۷ بیته پوهاند دکتور جاوید داوومو ټولګیو دپارسی‌ژبی دقرائت په کتاب‌کی هم اخیستی دی .

(۳۷مخ،د ۱۳٥۹ش کال چاپ)

(۳٦) مثنوی معنوی‌دمولانا جلال‌الدین محمد(٦۰٤ ـ٦۷۲هق) بلخی ثم‌الرومی‌لومړی‌دفتر۸۲مخ.د۱۳۷۲هـ ق‌کال‌دلکنهـو چاپ.

(۳۷) ګنج پښتو ؛ ۱۰٥ ـ ۱۰۷ مخونه ، دلاهور دنولکشو ر

چاپ؛ کلید افغانی، ۱۱۰ ـ ۱۱۲ مخونه ، د ۱۳۵٦ ش کال د کابل چاپ .

(۳۸) پښتو قصی «داویش دی له چانه زده کړ ؟ » ٦ ـ ۷ مخونه ،د۱۳۳۱ ش کال چاپ، کابل پښتو ټولنه ، د همدغه کتاب د ۷مخ په حاشیه کې لیکل شوی دی: «دا قصه له عربی نه ترجمه شوه » .

(۳۹) د استاد نوری دغه اثر تر اوسه نه دی چاپ شوی، او یوازینی خطی نسخه یی په ملی آرشیف کې په ٤/٤ نومره قیدده اواثر په ۱۳۲۰ ش کال ترتیب شوی دی .

(٤۰)دیوان ایرج میرزا، هدیهٔ عاشق (مثنویها) ۲۲٤ـ ۲۲۵ طبع تهران .

(٤۱) په اوسنی پښتو شعر کی دژوند څپی ۳۲مخ ، د۱۳٦۰ ش کال چاپ، کابل ـ پښتو ټولنه .

(٤۲) اوسنی لیکوال دریم ټوک ۱۰۸۳ مخ، ۱۳٤٦ ش کال .

(٤۳) د پښتو ادب لنډ تاریخ ، ۱۵ مخ، د کابل پوهنتون چاپ .

(٤٤) مقدمه د شعر او شاعری ، د خواجه الطاف حسین حالی، د پروفیسور محمد نواز خان طایر ترجمه ۳۹ مخ د ۱۹۸۱ع کال د پیښور ـ پښتو اکیډیمی خپرونه .

فهرست

کنه	عنوان	مخ
۱	نقاش	۱
۲	نیشه موږك	۹
۳	شکمنه مینه	۱۰
٤	وری او لیوه	۲۱
٥	دري غوښتنی	۲٥
٦	تـــقـــلـــب	۳۱
۷	لـــیـــوه	۳٤
۸	زوړ حمـــام	۳۸
۹	ویـــــش	٤٤
۱۰	د عشق افسانه	٤۸
۱۱	انسان او شیطان	٥۰

نقاش

اوریدلی مې له چانه دا قصه ده
که مې لوستې یوه کتاب کې کومه شپه ده

یو نقاش چې زمانې وو خورولې
بې خویو ، لوړو ، تندوکړولې

دهنر کرښې یې تللې وی بیغایه
دنبوغ شغله یې پته وه له ښایه

دآسمان له رندو ستر گونه لویدلی
بد بختی او کړاو وته زیږیدلی

دحقیرو په حلقه کې حقیر شوی
دغنی هنر په اړخ کې فقیر شوی

یوه ورځ یې لوړه زیاته شوه په کورکی
دچوپیاکوزه نسکوره شوه په شورکی

که لویان وو که واړه‌وو په فریاد شول
ژوندکړی شوه ، همه واړه په داد داد شول

مور چې ولید ل بې وزله ما شو ما ن خپل
خپل دزړه کتري ، په نس وړی بچیان خپل

چې په لوږه کې ناري وهي غوغاکړي
سر تندی وهي ډوډۍ پسې ژړا کړي

رنا ورځ یې توره شپه شوه د غمو نو
لار تري ورکه کړه هر خوا مصیبتو نو

توفاني بېړۍ شوه وا خیسته موجونو
اوښکو د وبه کړه دنیا شوه دغمونو

پښې لو ځې سر سر تو ر گر یو ا ن شکید لی
رنګ الو تی شوند ې ژیړ ې مخ شکو لی

فریادی په تلوار را غله مصورته
خپل خاوند ته دغمونو مفسرته

ورد مخه شوه بیبا کې لمبه نا که
وی یې اې زړه ډبرینه اې سفاکه

څه دپاره داد غم نقشونه باسی
کومه ورځ به د بچو تپوس له راسی

هغه ونه دا آسمان اود ادر یاب
چې دې کښلی دي د خپل زړه په خو ناب

هغه پوند چې بې امسا په لار روا ن د ی
هغه سپور چې معر که کې په جولان دی

هامرغه چې ږپوی وزر جوړی ته
هغه زوړ چې لاس یې پورته دی توبې ته

دغه نور عبث شیان چې رسموې ته
کوم لباس کومې ډوډۍ کومې اوګرې ته

دې بې ځانه تصویر ونو نه څه غواړی
په دی خوارفن باندی ولی دومره ویاړی

دغه دې عبث ولی رنګوی ته
دا رنګونه خوشی ولی خر څوی ته

په دی خواراو بې روزی هنرکی څه دی
بې له لوبۍ او خواری نه چې خواره دی

ماشومان دې وږی تږی اسکیرلی
بر بند شوی رنځور شوی ځور یدلی

را ولې په ژوند وسارو بدی چاری
دبې ځان تصویر لپاره باسی لاری

ځان داران دې له بې ځانونه قربان کړل
خپل بچیان دی له خپل لاسه پریشان کړل

دغه څنګه عاطفه څنګه هنر دی
دغه تیږه ده که زړه دی دبشردی

نوردی نشم دارسوا ژوندون زغملی
نور دې نشم دا حقیر هنر منلی

دنهنگ له خولی نه وا خله خپله برخه
نه بل لورشته نه بل ورخ نه بله کرخه

دهمت مرغه دمرددی ورپسی شه
څه ستومان څه سرگردان شه څه خولی شه

مصور چی واور یدلی داخبری
له مسکایی تویيدی دغم شکری

په خندا خندایی ووی دغم یارته
دترخه ژوند دمز لونوو فادار ته

همدا نن شپه دمه را که چی سبا شی
ستا د زړه او د خاطر غوتی به واشی

سری طلاوی دولتونه به پیدا کم
ستا په شوندو به روان رود د خندا کم

دا حقیر خلك به وبولم حقیر
دا غنیان چی په فطرت کی دی فقیر

د فلك زړه کی به وخوتوم وینی
د زمان سترگی به کم په ژړا سپینی

ته اوس وځه او ما پر یږده اند یښنو ته
خپل تصمیم خپلو رنځو ، خپلو غمو ته

شااو خوارا نه چاپیردی څنګیرو نه
په کړیو کی می سوځی سره اورونه

پښې تړلې خوله تړلې لاس تړلې
دنجات ورونه له کوز و پاس تړلې

لوړی تندی بې ارزښته بې عزت کړم
نشتمنۍ پخپل وطن کې بې حرمت کړم

نور به نکړم ستومان چا ته دماغ خپل
بل به نکړم بې بصرو ته څراغ خپل

درسام ښځې چې واوري خبرې
په غومبورو یې رالړشوې مرغلرې

پوهیده دژوند ملګری څومره سوځې
چې له زوره یې دلاسو ګوتې خوځې

نوپه پته خوله روانه شوه ستنه شوه
تا به ویلی له غیر ته پښتنه شوه

شپې تری یووړلې داوښکو مرغلری
زمان هیری کړی دشپې ترخې خبری

پښیمانه وه له تیرو جنجالونو
را او چته شوه له ځایه په سوالونو

پولادی زړه یې زهیر او نرم شوی
په تسل تسل رام شوی ګرم شوی

دخاوند کوتې ته راغله شرمیدلی
پښیمانه عذر خواه خجلت وهلی

چې کاته یې ځای خالی دی آشنانشته
د نا د مو تللیو او ښکو د و انشته

نا ببره سخته ویره ور پیدا شوه
لکه پانه په لړزه او ریږد یدا شوه

سودا یی مخ په انګړ غبرګه شوه بیرته
ترینه ور که شوله لارچی ځی به چیرته

سره لمبه شوه په انګړ را ګرزیدله
ګرزیدا کی پغلنځی ته وختله

چې په وره دپغلنځی یی قدم کیووت
د غو ا یی په یوه ور ون یی نظر پریورت

په افسوس سره یی و کړه دا خبره
بې سنجشه بې له ځنډه نا ببره

اوه ! دې خوار به چاته لاس وی غځولی
بیا به چاته محتاج شوی شرمیدلی

دې ناوخته بې دومره وختله وی وهلی
خو مره څومره به شرمونو وی ځپلی

وی یې راشه څه کباب ترینه تیارکم
بیا به ور شم ماشومان به را بیدارکم

ګوندی دی هم له کوم خوانه را پیدا شی
زما بده وزه هیره کړی پغلا شی

چی چاړه یی کړه تیاره غوښتیدو ته
لاس یی وړاندی که ورانه له پریکیدو ته

مسخری ورسره پیل کړی تقدیر
غوښته نه وه په دیوال ویو تصویر

چاړه و نښته دیوال کی راکړه شوه
دبیوزلی مورا سره دغم لمبه شوه

وی یی دغه ابدی زموږ تقدیردی
د خوږو په ځای په برخه کی تصویردی

دنرگس پیالی یی ډکی په خوناب شوی
دغمو نوترانی کتاب کتاب شوی

دې خپل فقر ته ژړل لا نا خبره
چی د یار د مرګ ناره شوه نا ببره

در وازه کی نا اشنا سړی ناره کړه
چی رسام په سر چپه د مرګ پیاله کړه

له خپل لاسه یی لاهوکه ځان در یاب ته
د خونی څپو منګولو ته گرداب ته

ښځه ورا نه شوه بچوړی را بیدار شول
را بیدار شول له کټو نو را گوزار شول

زړونه ونیول پنجوکی فریادو نو
ستر گی پتی کړی داو ښکو سیلا وونو

لـــه کـــړ کـــیـــو در وا زو او دیـــوا لـــو نـــو
ســـر را وایـــســـتـــه دردو نـــو او غـــمـــو نـــو

پـــه کـــا لـــه د یـتـیـمـی لـمـبـه خـو ره شـــو ه
دفلـــك چـــاړه دمـــرگ پـــه وینـــو ســـره شـــوه

زمـــانـــه پـــه تـیـریـد ووه څـــرخـیـد لـه (۱)
د مـطـبـخ تـا بـلـو بـا زار تـه وو تـلـه

پـــه لکـــو نـــوبـــانـــدی خـــرڅ هـــغـه اثـــرشـو
یـــو کـــاغـــذ لـــه کـــوټـــه زرو بـــرا بـــر شـــو

هـــر اثـــر ســـره چـــی جـو خـتـه قـربـانـی شـی
بـــی زوالـــه بـــی همتـــا جـــاو دانـــی شـــی

عـــا دی خـلـك قـر بـا نـی نـه قـهـر مـا ن شـی
قـهـر مـا ن شـی چـی لـه خـلـکـو نـه قـر بـا ن شـی

دغبرګولی ، ۱
۱۳٤۲ ـ کابل

---

(۱) بله بڼه :
زمانه په څرخیدو وه تیریدله

نیشه موږك

یو زلمی موږك له تندی نه بیتاب شو
له سوری نه را دباندې په شتاب شو

چې را او و ته نو و د ریده له ویری
هسې نه چې پیشو پته وی کوم چیری

یوه شیبه هلته ولاړو حیرانی کې
د پیشو په فکرو ذکر او پریشانی کې

وې یې څه و کړم له تندی نه مجبور یم
که خطر دی که مرګی دی زه معذور یم

یا به خان کړم له منګی څخه سیراب
یا به کړمه دا خراب ژوند ون خراب

خوار صورت به می مرګی ته نشانه شی
که اجل و نو پیشو به بهانه شی

او که نه سیراب به راشمه سوری ته
بیا به نوی لغم پری کمه وری ته

دایی ووی په اوبو پسی روان شو
راغی ودریده یومټ ته او ایرانشو

وې یی گوره چی عجب شانی منگی دی
جوړ له خاورو هسی ندی چی لرگی دی

گوندی وی چی کی پیدا کړم دژړه تاب
په اوبو دژوندا نه شمه سیراب

د منگی په گمان مټ ته په خټو شو
دمټ خولی نه چار چاپیر په گرزیدوشو

پښه یی وښویده و لویده د لا ندی
په شرابو آلوده شو لا ندی با ندی

په لامبو ، لامبو را وخوت د خم سر ته
په زحمت باندی راوو وت ترې بهر ته

دم دزحاله یوه نیشه وربا ندی راغله
د مستی مسته څپه ور با ندی را غله

ویره لاړه له غیر ته شین زمری شو
له غرورا وحماقته لیو نی شو

په بریتو کی یی پیدا د زور شغله شوه
ژوند تر پایه ورته ښکلی یوه نغمه شوه

د لذت او تکبر له لیو نتو به
بی اشو به سر یی لاړه تر اشو به

دی لا ناست و چی پشکه را پیدا شوه
دلکی په تاویدو شوه ، په گدا شوه

وې یی هر کله زما دستر گوتوره
دغه لمر دی راختلی له کوم لوره

دغه څنگه یی را غلی نا ببره
ما ړنده کړې چی زه نه یمه خبره

ستا راتگ ته کړی شپه وما بیداره
بخت ته گوره چی راځی په رنا لاره

اوس نو وایه څه دې حال څه دې روز گار دی
بیا دی کوم جوال ته اینبی دام دښکارد ی

څو ان مو ړك چی و مستی بیوا که کړې
د شرا بو کیفیت بیبا که کړی

پنچپل څان یی دا گمان شو چی زمری یم
او که نه یمه نوکم ترکمه سپی یم

نویی پر انیستله خوله او درفشان شو
له چاتی نه مغا مخ پی و ر ر و ا ن شو

وې یی څر نگه جرأت کوی پیشو
چی راغلی یی در بار ته د زمرو

زه زمری یم گوره پام که موړك نه یم
پر و ا گیر ه د پیشو او تلك نه یم

لـه غـضـبـه کـه یـوه چـیـغـه کـمـه پـورتـه
څه بـه کـانـدی وایـه تـښتی بـه کـوم لـور تـه

تـه لـه کـومـه وایـه دغـو مـره جـری شـوی
چـی پـه مـخـه را روانـه پـه زمـری شـوی

دغـه دومـره مـوږ کـان چـی تـا نـیـو لـی
پـه کـوم حـق او کـوم جـرأ ت دې ټـول خـوړ لـی

کـه مـی کـیښکـو دی له خـو لـی بـه د ې بـاران شـی
تـری راتـوی بـه پـه زرګـو نـو مـوږ کـان شـی

بـایـد و بـاسـی تـوبـه او پـښـیـمـان شـی
کـلـی پـریـږدی او د غـرو پـلـو روان شـی

کـنـه ژامـی بـه دی هـسـی کـړمـه مـاتـی
چـی عـبـرت شـی ټـول عـالـم تـه څـنـی پـاتـی

لـوی جـهـان بـه درتـه تـنـګـه یـو کـړی کـړم
لـه غـضـبـه بـه دی یـوه ګـولـه مـړی کـړم

وایـه ژرشـه ای بـد بـخـتـه بـی ادبـه
خـواب راکـه کـنـی پـری بـه دی کـم ژبـه

تـا خـیـرمـه کـوه پښـولـه را ګـذار شـه
وعـده راکـه لـه ظـلـمـو نـو تـو بـه ګـار شـه

لـه مـوږ کـه چـی پـیـشـو واوریـدی بـا تـی
وی یـی سـتـا لـه خـو لـی را او ری دغـه ګـا تـی

وې یې هو احمقه چوپ شه زه زمری یم
له غصې نه سره لمبه یم لیونی یم

دا ته نه وینې صورت مې ټول رپیږی
له غضبه مې ماغزه در ته ایشیږی

پیشو و خندل موږ ك ته وې یې جانه
راته ښکاری چې موږ شوی یې له ځانه

دا قدرت دې وایه څنګه پیدا کړی
را ته ښکاری پریشان خوب دې لیدلی

ته دنورو موږ کانو وکالت کړې
وایه ځان به له ما څنګه سلامت وړې

اوس به وګورې د ژوند وروستنی لوبه
را بیدار به شی له خپله در انه خوبه

شیبه وروسته نشه ولاړه موږك سم شو
تری چا پیره د ژوندن د بقا غم شو

پیشو وویل اوس وایه څه فرمان دی
مغا طب زما زمری که موږ ك جان دی

موږك وویل ما بد کړي او خر شوم
خرخوښه وی زه تر خره هم لابتر شوم

شرمساریمه ما وبخښه امیره
له دې لوبې ادبی له دې تقصیره

ستا مقام زما تر جر مه ډیر او چت دی
زما په پلو کی ستا له فیضه حرکت دی

په دی کلی کی چی چیری مو ږ کان دی
همه وا ړه لاس تړ لی بند گان دی

چیر ی زه او چیر ی ته عا لی مقا مه
خو له می ما ته کړ ی بی ستا له احترا مه

پیشو و و یل خبر ی د ې تر خی و ې
خو زه پیړ م د تا نه و ې د نیشی و ې

مگر ز ه ستا په نیو ویمه مأ موره
پخپل قتل به ما و بو لی معذو ره

فکروکه چی دا مرگ ندی خماردی
ژو ند هر چا ته یو ه نیشه ده بیا قما ر دی

د لیندی ، ۸
۱۳٤۳ ـ کابل

شکمنه مینه

د لرغونو زمانو په افسانو کی
د بغدی په اوسنیو ویرانو کی

را ته کړې یو بز گر سړی قصه ده
د یو ښکلی ژوند غمجنه خاطره ده

وایی هغه وخت چی دغه ښار آباد و
د نړی له تو فانو نونه آزاد و

پدی سیمه کی استوگن و یو ځوان
یو بی ساری ، بی رقیبه پهلوان

تا به وې د صورت غوښه یی پولاد ده
جگه و نه یی له نسله دشمشاد ده

د غیرت آواز یی تلی په ملکونو
هم یی ناسته دخوانی مینه په زړونو

مگر ځوان زړه یی له لاسه و وتلی
د یو پیغلی نجل په مینه یی بایللی

معشوقه یی اوسیده په بخارا کی
د آمو د زورور سین هغه خوا کی

عاشق ځوان په هره میاشت کی یو یو واړي
لنډ ولی بخارا ته اوږدې لاړي

پریکول یی بی اوبو بیابانو نه
د یخنی په شپو کی واور پ بارا نو نه

بی کدره به امو غیږ پ ته پر یو وت
له څپو او له گرداب سره به کیووت

په وحشی سین به یی وروړل پرغلونه
ایلول به یی سر کشه سیلاوونه

پو لادی لاس یی په هر شی با ندی برو
که دریاب ، که بیابان و او که غرو

هیڅ یی نه لر له ویره ، اضطراب
تا به و یلی چی موجو نه او گردا ب

د ده مخکی ذلیل شوی محکومان دی
بی ارزښته او ناچیزه غلامان دی

په رگو کی خو خیدلی گرمی وینی
د هیچا پروایی نه وه بی له مینی

یوه ورځ له ورځو راغی بخاراته
زړه یی کیښوده پښود تمنا ته

نیمه شپه د آسمانی حصار د پاسه
بی له ویری ، اندیښنی او بی وسواسه

را د ننه شو د مینی منزلگاته
زړه یی وسپاره رنگینی مشغولاته

جنتی شپه د خوانی په سرو لمبوکی
- په گیلوکی ، په قصوکی ، په بوسوکی

په مسکاکی ، په خنداکی ، په ژړاکی
د آسمان د رنوستورو په بڅلاکی

په ورو ورو د سباوون ساحل ته تللـه
د آسمان په شنه دریاب کی بهیدله

خوسپید و د شپی تر تورې پردې لاندې
آخر ستر گی واړولی لاندې باندې

آخر هغه ښایسته شپه سباوون شوه
د وصال پلوشه جگه شوه بیلتون شوه

وخت د دې شو چی بلغی زلمی جلاشی
د بغدی خواته روان له بغاراشی

خدا زده څه یی په زلمی زړه کی بیدا شول
چی شو ندان یی راغنچه شول په مسکاشول

ناڅاپی یی نجل ته وویل اې گله
ای زما د زړه شهی د عشق بلبله

که هر څو ستا بنکلی مخ یو بل څراغ دی
خو افسوس چې پیدا شوی پکې داغ دی

هسې نه چې ستا د ګلو باغ تالان دی
زما د مینې ابدی برجل و یران دی

بخاری پیغلی د ګل غنچه کړه خلاصه
څو ان مین تې هسې و وې له ا خلاصه

دغه وار چې خې له بنکلی بخارا نه
د عشقو نو وصالو نو له ما وا نه

ګوره پام که څان وانه چوی لامبوته
د جیهون خونړي سین مستو څپو ته

ستا د مینې په باغ ګډ د شك تالان دی
دا ځل هغه آمونډی یو بل شان دی

ته د مینې په بیړۍ را تیر یدلې
چې په موج او په توفان به بر یدلې

اوس دشك په څپوډو به شوه کښتۍ ستا
د دریاب کړۍ به ونیسی مرۍ ستا

ګوره پام که ای زما خیالې دلبره
هسې نه چې په سین ګډ شې نابېره

د سپیدو چرګانو وکړل اذانونه
څوان روان شو مات زړ ګی ساړه آهونه

بله شپه بیا دجیحون د ریاب ته راغی
دا او بو یوه ژوره تالاب ته راغی

ده وې ګوره د یار زړه کی به څه تیرو
چې زما زړور زړه ور څخه هیرو

دې ګمان کاوه چې ګوندې دا دریاب
د آمو مستی څپې او یا ګرداب

زما د اوسپنو دا متی به کړی ماتی
زما د مینی خاطرې به شی میراتی

نه نه ! زه هسی بز دله مین نه یم
زه په مینه کی په مال او په تن نه یم

زما نه به خامخا زما فرمان وړي
سین او غر به زما سوری ته امان وړي

دا یی وې نا پاکه سین ته پریووت
له جیحون سره په جنګ جګړه کی کیووت

مګر دا څلی بل سین بله څپه وه
بل ګرداب و بله لوبه بله شپه وه

د دریاب ګیډه کی بل خپل انقلاب و
په او بو کی بل قوت بل اضطراب و

ایشیدل د دریاب زړه کی غضبونه
د څپو له خولی و تل سر کش ځګونه

قهر جنی زخمی غیږه کړله خلاصه
د او بو سیلاب یی پر یښو د پی د پاسه

پولا دی متی یی تاو شوی یو تر بله
خو تیر و خت تکراریده نه بیا هیڅکله

پهلوان زلمی خوراك شو د جیحون
عشق و نه ز غمل ناز و نه د جنون

د عشق کار کی چی رښتینی صفا نه وی
سرایستل ترینه آسانه سو دا نه وی

مجنون ځکه پا یښتی جا و دا نی شو
چی د خپلی لیلی مینه کی فانی شو

د لیندی ، ۱۲
۱۳٤۱ ـ کابل

وری او لیوه

ما زیګرو زیړی لمر په ډو بیدو ؤ
له مشرقه نرم باد په چلیدو ؤ

په ورشو کی د شنیلو و بڼه خوره وه
د شفق لمن د وینو په شان سره وه

هره خوا را پورته شوی وو ګلونه
د بید یا په لمن پلن وو سره لالونه

د سنځلو بوی خورشوی و بید یا کی
د شنیلی فرش غوړیدلی و سارا کی

شین آسمان تانده هوا بنایسته غرونه
په هر پوله د خاټولو څر اغونه

یوه رمه له لری ښکاریده په تلو وه
له سارا نه آبادی ته په وتو وه

په ورشو کی له رمی نه پاتی وری و
بر ګکی و پستکی و ګلالی و

ببر سر او پرده غوږو نه ښیښنی سترګی
سور پوستکی د مخ پښی پی سپینی غبرګی

آزاد ګرزیده نه شپون و نه رمه وه
نه یی زړه کی له بل چانه اندیښنه وه

نابره به یو ځل په نخیدو شو
له خوښی به په خیز و او په ټوپو شو

بیا بی منډه کړه او جګ ځای ته به وخوت
آزاد پاګ به یی په مینه مینه وکوت

یو ځل تږی شو اوبو په لوری راغی
د لښتی مستو څپو په لوری راغی

په ژوره زی را ښکته شو او بوته
ده لاشوندی سمولی خپلو چښو ته

ناڅاپی یی تر غوږ سخته یوه غورا شوه
په ما شوم صورت یی تبه را پیدا شوه

چی کاته یی یو لیوه ولاړ و پور ته
دواړه سری سترګی یی ورته ولی اورته

سپینی داړی یی چری د قصابانو
توره خوله یی لکه ګور د دوز خیانو

وری چی ولیده دا حال له حاله وت
خپل اجل یی روغ پخپلو سترګو وکوت

لیوه پورته په غروروتـه ولاړو
وړی لاوختـه لـه خپـل ځـان جهـانـه ولاړو

د ورشـو سـنـدرې هیـرې شـوې ورشـو کـی
د تـو پـوخـونـدونـه لاړل پـه خـوبـو کـی

لیوه وړي ته ویل ودریږه مـه ښـوره
دا اوبـه دې ولـی خـړی کـړلـی ګـوره

زړه مـی غـواړی درنه پـر یـکـم غـوږ او ژبـه
ای رزیـلـه بـی حـیـا او بـی ادبـه

وری پـه عـذر او عـاجـزی او پـه ژړا
ویـل پـلاړه زه او لادیـمـه دتـا

زه بـه څـنـګـه سـتـا او بـه درخـرومـه
یـا بـه خـاوری پـه هـغـود رګـډومـه

کـاشـکی ړونـد شـمه پغپلـو دواړو سـترګـو
کـه دا کـار وکـم یـاګـوډ شـمـه پـه غبرګـو

دا اوبـه خـوسـتـالـه خـوانـه را بـهـیـږی
زمـا پـه لـوری را روانـی دی تـیـریـږی

ښـایـی پـورتـه کـوم پـسـه وی بـی ادبـه
کـوم سپیـن سترګـی بـی حیـا او بـی نسبه

خـړی کـړی یـی او بـه وی سـتـاسـی چښوتـه
کـه رخصت وی زه بـه درشمه کـتـوتـه

PROPERTY OF ACKU 2731

لیوه وخندل او وې وې نا ببره
اې سپین سترګیه بی حیا او غټه خره

ته لا ماته څنګه وایی د لیلو نه
مګر ماته معلوم نه دي دا چلو نه

اوس به ستا د سپین سترګی سزا در ښیم
زه لیوه یمه کم عقله پسه نه یم

خوارکی وری یی را و نیوه له غاړی
د مظلوم په مړی خښی شولی دا پی

ظالمان همیشه خوری د مظلوم غوښی
په کمزورو زور منګولی خښی

د میزان ، ۹
۱۳٤۱

دری غوښتنی

یو لر ګډه چې غریبي وکړ ولې
لو ږی تنډی په اوړو نو اړ و لې

چا و د و ښنو یې پار و لې وو دردونه
خو ږ من زړه یې خو ځو لې وو مو جونه

تمامې عمر له خپله بخته تنګ و
له خپل غم او غریبي سره په جنګ و

یو ه و رځ د لو ی ځنګله په لور روان شو
د چر تو نو په د ریاب کې لالهان شو

لا ر په منځ کې مخامخ شو یو ه سړی ته
یو ه سپین ږ یری شان بوډاته ګلالی ته

په پوښتنه کې د ستې سره اشنا شول
په خوا له شول د د ر د و نه په ا فشا شول

لرګډه پرانیستی د زړه غوټی بوډا ته
بو ډا وژړل بد مرغی بې نوا ته

بیـــو زلان ښه یـــو د بـــل پـــه ژبـــه پیـــــژ ی
یـــو د بـــل لـــپـــاره ســـو ځـــی او کـــړ یـــژ ی

لـــر ګـــبـــا نـــه د لـــر ګـــبـــنـــو ســـره ژړای شـــی
بـــز ګـــر ا ن د بـــزګـــرانـــو خپلـــیـــد ا ی شـــی

بـــودا وویـــل لـــرګـــبـــه تـــه ګـــرا نـــه ورووره
یـــو ه لا ر ه درتـــه ښـــیم مـــاتـــه ګـــو ره

دی ځـنـګـلـو کـی یـو فـقـیـر مـشـکـل کـشـا د ی
لـــوی عـــارف دی ســـتـــا دردونـــو تـــه دوا دی

نـــا مـــرا د ا ن رســـو ی خپلـــو مـــر اد و تـــــه
د و لـــتـــوتـــه مـــقـامـــو تـــه مـــعـشـو قـــوتـــه

کـــال د مخـــه یـــو جـــونـګـــی لـــه مـــانـــه ورك و
د غـــه کـــا ر تـــه ز مـــا عـــقـل هـــك ا و پـــك و

چـــــار او ښـــــو ده در ك د دغـــــه پـــــیـــر
چـــی خـــد ای دوســـت دی او عـــا رف دی او فـــقـیـر

ز ه ر و ا ن شوم پـــــه ا خـــلاص د هغـــه خـــواتـــه
د امـــیـد مخـــه مـــی خـــلا صـه کـــړه رنـــا تـــه

لا ز ه نـــه و م ر ســـیـدلـــی دده خـــا ی تـــــه
لا مـــی خـاوری بـــا دولـــی پـــه ســـر خـــد ای تـــه

نـــا څـا پـــی مـــی د ځـنـګـلـه پـه یـوه خـوا کـی
د مـــا ښـام پـه تـــور بـغـو نـــه شـــا ن رنـــا کـــی

تـــر نـــظـر ه يـو بـــو د ه پـــه خـــوخـيـد ا شـــو
چـــي کـاتـه مـــي زمـــا جـو نـگـي دي را پـيـــدا شـــو

دا فـقـيـر بـــه د تـــا کـــار هـــم گـــو ره ســـم کـــړ ي
تـــه خـــو ورشـه هماغـــه بـــه دي يـــوغـم کـــړي

د لـر گـبـه پـه ستـر گـو پـړق شـــو او رنـــا شـــوه
د ژو نـد هـيـلـه يـــي پـه زړه کـي را پـيـــدا شـــو ه

وې يـــي خـــان ســـره چـــي خـا مـغـا ور خـمـــه
دا ستـا نـــه ســـړ ي بـــه حـتـمـاً نـنـگـو مـــه

گـــونـدي و ي چـــي بهـانـــه ر ا ته پـيـــدا شـــي
کـومـــه پتـــه خـــزانـــه راتـــه پـيـــدا شـــي

دم د رحـال يـــي خپـــل سپيـن ږيـري بـــو ډ اهـير شـــو
حـــر ص د زرو ا و د مـــال تـــرينـــه چـــا پيـــر شـــو

بـــي تکبيـــر ه بـــي د عـــا ا و بـــي ســـلا
بـــي پـــوښتنـــي لـــه بـــو ډ ا شـو ر ا جـــلا

پـــه تلـــوار تلـــواري ر ا غـي د پيـــر خـاى تـــه
د غـمـــو نـــو او دردو مـــشـکـل کـشـا ى تـــه

چـي کـاتـه يـــي پير خـامـوش پـــه خـاى کـي ناست دي
استغر ا ق کـــي خپـل خـا و نـد لـره پـــه خـواست دي

کـــه جهـــان و ا ى همـــه وارە ښـــو ر يـد لـــي
د ي بـــه نـــه ولـــه خپل خـــايـــه خـوخيـدلـــي

خوار لرگبه همالته تیر کړل د ری کلونه
را یی نه و ړل د مراد غنچی گلونه

پیر هماسی پخپل ځای ناست و سر خوړی
تابه وی چی سم و د م دی لکه مړی

آخر یوه ورځ د لرگبه صبر تمام شو
نا څاپی یی د خپل کور پلوته پام شو

ورپه یاد شول خپل بد مرغه اولادونه
خپل د درو کلوبی ځایه خدمتونه

لکه مار له ډیره درده په ځای تاو شو
له غصی په ملا غبرگ شو تاو را تاو شو

په دی وخت فقیر له خوبه را بیدار شو
قهرجن لرگبه ته هسی په گفتار شو

وایه څه غواړی چی د رکم مرادونه
عز تونه خزانی که ثوابونه

لرگبه ووی له غضبه خوتی راکه
دامی بس دی خزانی ځانته بسیاکه

فقیر بیرته خپلی ستر گی کړلی پتی
د لرگبه تمام و جود شو خوتی خوتی

شونډی خوتی پوندی خوتی سپوږمی خوتی
پوزه خوتی وروځی خوتی پښی خوتی

څولر ګبه له غصې کیناست او ارام شو
سر ترپایه پې دخوتو کار تمام شو

غر ییګوتې وی توبه مې له دی ګټو
چې ترخوتو پوری ډوب شومه په خوتو

وې یې څوك چې د خپل نفس تابع دار وی
داز ما په څیربه هسې لعنت باروی

اوس به ګالم بیا د دری کلو غمونه
تیروم به په چوپړ کې تاړاکونه

بیا به ژاړم دې نا پوهه لوړ مقام ته
پام بې اړوم د خوتو سرانجام ته

په همدی همدی کې تیرشول دری کلونه
د لرګبه انتظار وسپړل ګلونه

قلندر له استغراقه را بیدار شو
چې بیدار شونو مخلص ته په ګفتارشو

ای زما خاصه مخلصه رانه غواړه
یادنیا یا آخرت یادغه دواړه

لرګبه وویل دا خوتې رانه واخله
دا دننګ او شرم ګټې رانه واخله

پیرسر ښکته که اوبیرته پخپل ځانشو
لرګبه بیاله خپله سواله پښیمان شو

دده خوښې عالم له نورو سره ولاړې
سپېره پاتې شوغمونه جينګې داړې

بيايې وګالل ددرو کلو غمونه
دايز کوعذابو نه کړاوونه

پيرپخپله موده بياسر رااوچت که
په لر ګبه يې تمام هسې خپل حجت که

وايه څه غواړې چې در يې کم غر يبه
اې کم بختې در بدره بد نصيبه

لر ګبه و وې چې له دې شرمه مې خلاص که
غلط نشې خپلې خوښې را په لاس که

نوربه نه غواړم له لويو خلکوګټې
که مې يو خلې تر لاس شوې خپلې خوښې

د تلې ، ۱
۱۳٤۱ ـ کابل

تقلب

یو کوچی و چی شودې یی خر څولی
نیما یی به یی او به پی ګډ ولی

په تګی او تقلب کی دولت من شو
په جاهل قوم کی لوی شو عزتمن شو

څلور میږې یی په کم وخت کی رمی شوې
له دوو اوښونه یی جوړی قافلی شوې

ډیر نیږدی و چی د نورو غلو په شان
یو ستر مشر شی د قوم او والا شان

یوه ورځ دغه سړی ته په بازار کی
کار پیدا شو او روان شو په تلوار کی

ماسپښین چی بیرته وو ته له بناره
د شدو بی له پیسو سره سر شاره

نا څاپی یی سترګی و لویدې په غروفو
پاس په غروکی داورو په انبارونو

ښکاریده چې پاس په غرونو باران راغې
وير وو نکې او بې ساري توفان راغې

په اورو کې بارانکړلې غاښ چيچنې
وريځې پلنې شوې د غرونو تر لمنې

د آسمان دروازې خلاصې شوې او بوته
غرونو کوز کړل سيلاوونه د وبيدو ته

ما ښبا مې کوچې په ويره انديښنو کې
را نيږدې شو خپل تا توبې ته غمو کې

را الوتې وولې غرو ساړه با دو نه
خواره شوې وو د وريځو تور فو ځو نه

يوه ژيړ چکه شان سپو ږمۍ په راختو وه
يوه غمجنه شان رنا په خوريدو وه

عاقبت راغې کوچې خپلې ور شو ته
خپلې سيمې د کيږد يو او رمو ته

چې کا ته يې د همه وو کار تمام دی
که رمې دی ، که پيسې دی ، که يې کام دی

نه رمې شته ، نه د کور نام و نشان شته
نه يو څار وی نه يوه ښبه د انسان شته

هيڅ او پک شو سايې ونښته سينه کې
او ښکې وچې شوې د ستر گو آئينه کې

لکه بت بیحر کته په ځای و در یږد
بیا بی حس شو لکه زور دیوال را ولویږد

چې په حال شو نو په مندو ،مندو سر شو
خدای در بار ته هسې شان په شور و شر شو

ما خو یو پل نه وا ایښې څه بیځایه
دا اوبه له کومه راغلې لویه خدایه

هلته چیرې کوم بوډا وژوندې پاته
ورو ورو راغې را نیږدې شو د ده خوا ته

ویلې دا ستاد شو دو او به دې وروره
ستا عمل دې په رنړو سترګو یې ګوره

تا اوبه چې په شو دو کې خر څولې
هغه واړه غوندې یدلې زیاتیدلې

شو لې زیاتې دا سیلاب یې را روان کړ
ستاد لاسه یې زمونږ کورګې هم وران کړ

د تلې د میاشتې ، ۳
۱۳٤۱ ـ کابل

لیوه

یو لیوه و له تا زیا نو تښتید لی
دیوه کلی په خوا راغی سانیولی

خوارله ډاره لکی پښو کی وه نیولی
چونګیده اودما شوم غونډی ژړلی

دیر بی حاله وا رخطا او منقلبو
لارتری ور که وه بی حده مضطرب و

دښکار یانو هره خواپسی هاهاوه
بده پښه خطر ناکه مشغولاوه

تور گردونه ورپسی وو دتاز یانو
پسی لیکه یو پلټن د هلکانو

ما تید وته یی خونی غاښونه سم وو
رسید ونکی یی انجام ته نورستم و

خپلو بد و له هر خوا په مخه کړی
په هر گام کی یو توپك په زخه کړی

سا یی نښتی و ه « امـا ن امـا ن » یـو غـو ښت
یـو سـاتـلی او مـصـئـون مـکـان یـی وغـوښت

عـاقـبـت دکلـی لاری تـه راسـم شـو
اوچـی کلـی تـه نـیـږدی شـو زړه یـی تـم شـو

دایـی خـوښه کـړه چـی ننـه شـی کـوم کـورتـه
لاره وتـړی دسپیـو شـرو شـور تـه

خـو تـړلـی وو لـه بـده مـرغـه و ر و نـه
دروازو تـه ووڵـویـدلـی ځـنـځـیـرو نـه

پـه ځـغـسـتا شـو پـه کـوڅـو کـی کـتـه پـورتـه
پـه دې هـیـلـه چـی ورننـه شـی کـوم کـورتـه

دښکـار یـا نـوشـور وشـر پـه زیـاتـیـد وشـو
دلـیـوه تـمام صـورت پـه لـړزیـد وشـو

ښـا یـسـتـه نـړۍ یـی غـا ړه کـی کـړۍ شـو ه
یـو ه شـیـبـه یـی پـه غـمـو نـو کـی پـیـړۍ شـو ه

هلتـه ناسـتـه پـه دیـوال یـوه پـیشـو وه
پـه کـوڅـه کـی دلـیـوه پـه ننـدار ووه

دلـیـوه نـظـر چـی ولـویـده پـیشـو تـه
خـولـه یـی پـرانـیـسـتـه زاریـو او عـذرو تـه

اې بـی بـی پـیشـو تـلـوار کـه را تـه وایـه
چـاتـه ننـګ یـوسـم یـوه سـمـه لار را ښـایـه

ته پوهیږی په ماځه سختی تیر یږی
داجل چاړه می ستونی ته خوځیږی

داد سپیو اوښکار یانو چی هاها ده
بل څه ندی داپه ماپسی غوغاده

چیری شته دی دغه کلی کی یوځوان
کوم زړه سوانده اوشریف شانی انسان

چی ما وساتی له سپیو او تاز یانو
امن راکړی له دې سختو ظالمانو

هله وایه وخت تیریږی چی ورځمه
اجل نیږغ را ته ولاړ دی او زه مرمه

پیشو وویل سو رګل یو بنه انسان دی
دهغه کورهم پنا دی هم امان دی

لیوه وویل هغه ته می مخ توردی
یو پسه می تری خوړلی په ما پوردی

پیشو وویل چی ورشه نوانځر ته
ددی کلی ننګیالی اوز ورور ته

لیوه وویل هغه ته نشم تللی
یوسیر لی می له هغه نه تښتولی

ګناګاریم ګناګاریم ګناګار
خدای دپاره راته بنیه بلله لار

پیشوو ویل نو هله او تلوارکه
څخله څخله دزه ـ رك کاله ته لارکه

لیوه وو ویل یوو ری می تري داړلی
دا لاځه یوخوسکی می تري خوړلی

زه هغه ته په شرمویم شرمیدلی
گناگار، بی حیثیته، بنو یيدلی

پیشوو وې چی نو څوك به در په لاس کم
گمان نه کوم چی اوس به دې زه خلاص کم

تا پخپله دنجات ورو نه ترلی
څوك وژلی، څوك داړلی، څوك خوړلی

دسلواغی، ٤
١٣٤١ ـ کابل
«موضوع له روسی فلکلورنه اقتباس شویده»

زوڕ حمام

ڕا خـــر گـنـد شـــو یـــو ه وڕخ یـــو د ڕ د یـــد لـی
یـــوانســـان ، یـــومـــرور ، یـــوپـار یـد لـــی

دظلمـــو نـــو نـــاروا وو پـــه اور ســـوی
د نـظـــا م ا و مـــنـــتـظـم پـه د و د ا لـــو ی

پـه خـوانـــی کـی لـه غـمـونـوکـمـان شـوی
مـــریـــض شـــوی زهیـــرشـــوی نـــاتـــوان شـــوی

کـــه آسـمـــان واو کـــه خمکـــه وه کـنـــڵ یـــی
کـــه کشـــران ووکـــه مشـــران وویـــادول یـــی

لـــه خـــائـــنـو امـــرانـــو یـــی شکـــوه وه
لـه انســـان غـونـدی دیـــوانـــویـــی شکـــوه وه

ازرده ولـــــه مفســـــد او لـــــه فســـــاده
لـــه ڕا شـی نـــه ، لـــه خـــا یـنـه ، لـــه جـــلا د ه

لـــه خپـــل کـــاراو خپـــل دفتـــرنـــه یـــی زړه تـــورو
تـــابـــه ویلـــی درســـت جهـــان ور بـــانـــدی اورو

رانه وې غوښتل یو کار ورته پیدا کم
یوشریف شانی روزګار ورته پیداکم

هسی کار چې له فساده یې کارنه وی
له لیوه سره یې واك او اختیار نه وی

ما چې وا و ر ید د ا نا شو نی شا ن مقصو د
ز ړه مې و سو په د ی پا ك سا ده مو جو د

چې ته ګوره دی دځه شی امیدوار دی
څومره پاكځومره ساده څه بې آزاردی

دا ماشوم لامنتظر د صفا یې دی
په ما ښام باندی ګمان د سبایی دی

په کراره او نرمۍ مې ورته ویلی
دا دفتری واړه یودی نه دی بیلی

په هرځای کی هغه یوشانی رنګریز دی
که هرا ت د ی که غز نی د ی ګر د یز د ی

دی لپاره چې دی پوه کمه تمام
ورته سر مې کړه قصه د زوړ حمام :

« یو سړی د شپې شیطان و غو لو لی
نیمه شپه له خپله کوره را وتلی

ضرورت یې ولمبا او استحمام ته
برا بر شو یوه زاړه غو نډ ی حما م ته

ور د ننه شو دهلیز ته بی وسته سه
ځان یی سم که لوخیدو ته سمدلاسه

تن یی لوڅ که ، لونگ یی وتاړه د پاسه
چی شرنگا شو له او چته له هر تاسه

په لیندی د هر گنبدی کی ناڑی شوی
له هر وره نه را اوچتی نغاړی شوی

پنجری یی د بلا وو توری خولی شوی
د یوا لونه د وهمو نو قافلی شوی

په وهمو کی لمبا ځی ته شو د ننه
گوندی هلته دبل چا وکړي لټنه

په نظر کی یی یو بل سړی پیدا شو
چی پیدا شو نو یی زړه پی تسلا شو

ده لا ځیر ، ځیر د ملگری ی تماشا کړه
چی کا ته یی دواړو ستر گو یی رنا کړه

څو گامونه تری را لری شو په زغرده
چی کا ته یی د پښو تله یی وه گرده

تا به وی د پښو تلی یی د پیل و پ
نیلی ستر گی یی کاسی ، کاسی د نیل و پ

بل څوك نه وو او حمام وا ړه خالی وو
نه یی سوری ، نه یی نښه ، نی کالی وو

په د ې تش حمام کې و يره و ر پيدا شوه
په تمام صورت يې ګډه ريږ ديدا شوه

زړه يې وا چاوه سړی او وار خطا شو
په ورو ورو په و يره ، ويره را په شا شو

د کا ليو اغو ستو کو تې ته ستو ن شو
بيچاره له ډيری ويری نه زبون شو

د حمام يو خد متګار شو را پيدا
ليږ را تم شو ، څه يې زړه شو تسلا

خد متګا ر تې هسې و ويل د واره
او س مې زړه نيږدی چا و دلې وله ډاره

په حمام کې را ته ښکاری چې پيري د ې
پښې يې ګردې دې پخپله سم سړې د ې

لا پخوا وم ويريدلی اوس بتر شوم
په نا ولی ځان را وو تم بهر شوم

د حمام خادم ويران شو له خندا
وې يې داسې خوبه نه وی لکه زما

دی چې ځير شو ، د ده پښې هم رفيدی وې
د پير يانو غوند ې ګردې وې کلچې وې

په هډو کو کې يې ننو ته ويره
سره تبه يې په زړه شوه را بر سيره

د نا یی کوتی ته راغی نیم عریان
رنگ الوتی ، سا نیو لی او ستو مان

خپل آشنا نایی ناري کړې پی چی و لی
چیری تښتی څه له دا نگی ولی ځغلی ؟

وې یی مه می پو ښته بده واقعه ده
په حمام کی د پیر یا نو هنگامه ده

را تول شوی په جهان چی څه پیر یا ن دي
پښې یی گردی ته به وایی چی پیلا ندي

دم په بر یتو کی ملگری ته مسکی شو
لونگ یی لری له که پښونه اوپیری شو

وې یی گوره زما دپښو غوندې خونه وې
هسی گردی هسی غوندې منډې شوې !

سړی ودار شو په چیغو او سوران شو
د حمام آخری وره ته را روان شو !

د حمام خاو ند چی ولیده دا منډه
تر غاښو لا ندې یی ونیو له شونډه

وې یی خیر دې وې وروره چیرې تښتی ؛
دغه ولی هسی لوخ او کالی نغښتی !

وې یی مه پو ښته زاره می په چا و دو ده
روغه سا می له هیبته په خټو ده

د حمام په منځ کې واړه ګرد پښې دي
که نایان ، که خادمان دی ، که سړي دي

دحمام خاوند د لونګ په را ښکو دو شو
په خندی شو د پښو په لو څو و شو

د سړی چې په ګردو پښو نظر شو
سد یې لاړ ، له تورو خاورو برا بر شو »

ماچې خلاصه کړه قصه دګرد پښو
مخاطب شوناڅاپی په غږید و

وې یې ها سړی خو یوه شپه ځور ید لی
له څلورو ګردو پښونه ویږیدلی

ما ته ګوره چې بندی یم شا مدام
ځوروی مې ګرد پښې علی الدوام

هره ورځ و ینم سلګو نه شیطا نان
بې غوږونو بې نظره بې ایمان

ځوروی مې پاروی مې خوځوی مې
ژړوی مې ویروی مې سوزوی مې

۱۲ ر ۱۲ ر ۱۳٤۲

ویش

یو زمری او یو لیوه او یوه ګیډه
مخامخ شو و په ځنګله کی مخ په ځوړه

زمری و ویل لیوه ته «سر یاوره!»
ای زما خوږه ملګریه زړه وره

دا له لوږې پیدا شوی چی و سواس نن
باید ور سیږی پای ته زموږ په لاس نن

ته نن لاړ شه در مو په حال خبر شه
کوم چاری یا پشیر لی ته برابر شه

ګیډې ګله دې کوم کلی ته ځان سم کړي
کومی چرګی ته دې جوړ د نیو و چم کړي

زه که څه هم نن بی و سه او ستومان یم
ستاسی غم خور م‌په غوایی پسی روان یم

زو رور زمری چی و که دا فرمان
ګیډې و غوښته له ده د سرامان

وې یې څنګه دی فرمان وروسته له ښکاره
په کوم ځای کې بیا یو ځای شو له سر کاره

زمری وویل همدلته را پیدا شئ
په همدې ځای کې زما حضور ته راشئ

په همدې ځای په خو ښې کې شریکان شو
بیا به څو برو څنګلو ته به روان شو

و روسته درې واړه په دریو لاروسم شول
د م در حاله د خپل ښکار په فکر او غم شول

ور څه و روسته چې له ښکاره راستانه شول
سره کینا ستل د زړو نو په خواله شول

زمری وویل لیوه ته « حوالدار ه ! »
دغه غوښې را تقسیم که ښیه لاره

لیوه و ویل سلطان ته حق معلوم دی
چې زما څه ، د ګیدړ څه د ده کوم دی

د نګر چرګ د ګیدړ خان ، پسه زما دی
دغه غټ مزی غویی وا په د تا دی

په دې ویش به د غلام زړ ګی مسرور شی
که د تاسی لوړ حضور لره منظور شی

د زمری سپوږمی له قهره تکی سری شو ې
ستر ګی ننوتی مخ کې او وړې شو ې

خو له یی پلنه شو ه را ویی وتی دا پې
له غضبه یی ځگو نه شو لی نا پې

سره تا و شو پغپل ځا ن کی او ببر شو
له غصی نه سور خطر شو لا بتر شو

له لیوه نه یی سر غو څ که په یوه منده
د گیدړ لکی له ویر پ شو له غو نده

له هیبته گرده یوموتی وړی شوه
سره ننوته ، نیمه شوه کمکی شوه

په دې وخت کی زمری وویل چی وایه
په دې ویش کی د تا څه د ه خپله رایه

گیدړ و ویل سلطا نه ویش رو بنا ن دی
حقیقت څلا نده لمر دی او عیا ن د ی

چر گ د تا سبا نا ری ، پسه غر منی دی
دا غو یی ستا د حضور ما بنا منی د ی

زمری وخندل او وې ویل گیدړ جا نه
دا انصاف دې پیدا کړی له کوم خوا نه

دغه ویش چی تا له ما سره منلی
دغه عقل وایه چا در ته بنو و لی

گیدړ و وې تا چی پر پ د لیوه سر که
شا هه ما له هغه زده دغه هنر که

څوك چې مشر سره ویش کې چالاکې که
له خپل سر سره جفا که بیباکې که

د حمل ، ۱۵
۱۳٤۳

د عشق افسانه

(له یونانی روایاتو څخه)

یو ه و رځ خ دا یا ن له سولی څخه تنګ شول
د جنو ن ا و مینی خ دا ی سره په جنګ شو ل

د جنو ن ګ دا ر په مینی ب ر ا ب ر شو
عشق یی پوند که او جنون وربا ندی برشو

خ وا ر په خپلو دواړو ستر ګو نا ییناشو
د خ دا یا نو مرکی ته په ژ ړ ا شو

چی ز ه پ ر و ند کړ مه په ستر ګو لیونتوب
مبتلا یی کړم د عمر په آ شو ب

ا و س نه پا ن و ینمه مخه کی نه لاره
نه ژوره نه غو ندی او نه هو اره

باید و شی دا پوښتنه له جنو نه
چی یی وا یستمه ولی له ژ و ندونه

دوی چې واوریده له مینې دا بیان
دغه ځلي یې ور کیښو ده تر میان

باید عشق له لیونتوب سره پخلا شي
د دوی شخړې ته د حل لاره پیدا شي

لیونتوب چې عشق په ستر ګو نابیناکه
ټول عالم ته یې له لاسه ځان رسوا کړه

پس له دې چې لیونتوب کومه خوا ځغلي
عشق دې هم له خپله ځانه سره ولي

دا به ګالي که خپه وي او که خوښ وي
باید تل د عشق د لارې عصا کښې وي

له هغې ور ځې را هیسې عشق جنون شو
څوك چې چا باندې مین شو ځیګر خون شو

بې جنونه عشق هیڅ لوري ته تلی نه شي
بې رهبره یو قدم خو ځیدای نشي

دفتر هاد هدف خو څه بیستون دی
چې له عشق سره لازم قوی جنون ندی

د تلی ، ۱
۱۳٤٤ ـ کابل

انسان او شیطان

اوریـــدلـــی مـــی لـــه چـــانـــه داقصـــه ده
لـنـه کـی ده خـو مـعـنـی کـی ښـه اوږه ده ده

را روان وپـــه ســـارا کـــی یـــولار وی
یـــو بـیـبـا کـه بـــی پـروا د ژونـدون روی

پـــه صـورت بـانـدی تـکره پـــه زړه غښتلی
دځـوانـی پـــه هـــر پیچـومـی اوښتلـــی

دا ســـړی پـه لـویـه لار کـی شهـوانـی شـو
شـهـو ت واخـیـسـتـه پـه سـر او تـو فـا نـی شـو

پـام یـی وکـــه چـــی د زړه تسـل پیـدا کـړی
خـپـل سـر کـشـه ضـرورت چـیـرې روا کـــړی

هلتـه څیـرمـــه یـــوه اوښـــه څـــر یـدلـــه
د زړه غـــوتـــه یـــی ورو ورو را سپـریـــدلـــه

پـښـه یـی ونـیـوه لـه تـکـه یـو څـــه تـم شـو
څـــو پخپلـــه فیصلـــه کـــی مصمـــم شـــو

یو د لاستی شان لرگی یی را پیداکه
لنگوتی یی له خپل سره را جلاکه

او شپه څروده هما سی په ور شو کی
سړی وتا په لر گی ورته ورنو گی

د شا خوا نه یی ور جوړه یو ه زینه کړه
پیاپی ودریده او یخه یی سینه کړه

چی تسکین شو پښیمان شو له خپل کړ لو
شرمنده ود زینی له جوړو لو

وې یی تو لعنت په کار شه د شیطا ن
د رز یل د بی شرف د بی و جد ان

کنی چیرې زما خیال چیرې دا کار
ولا حول په دې سپی په بد کردار

په گناه او په زنا یی مبتلا کړ م
په دې کار یی ملا ئکو ته رسوا کړم

ده لار وی په بی غرض شیطا ن تو رو نه
د باران غو ندې کنځلی لعنتونه

چی څرگند شونا څاپی ورته ابلیس
سپینه ږیره تر پیډ یویی کمیس

و ې یی اې حر ا مزا ده او زنا کا ر ه
تاته کله ماښوو لی دغه لاره

خکه هیڅکله زما داتکل نه و
چې په ذهن کې مې هسې اتکل نه و

تا چې هر چیرې پڅپله غول خوړلی
بیا دې زما په سپینه ږیره را تپلی

زه شیطان یم مګر دومره رزیل نه یم
داد تاغوندې وحشي او ذلیل نه یم

PROPERTY OF ACKU 2731

سلیمان لایق
دشاعر پیژند گلوی :

سلیمان لایق د۱۳۰۹ هـ . ش کال دمیزان په ۲۰ نیټه دپکتیکا ولایت په شرنه کی زیږیدلی دی .

لایق دافغانستان‌داوسنی انقلابی جریان دشعر پیاوړی‌او مبارز نماینده دی. دده په آثارو کی‌دانقلابی ارمان او دانسانی مینی‌تودوخه یوه شویده او دده ترانو ، سرودونو او شعرونو ته یی سور رنګ ورکړی دی .

لایق په پاندینی نړی کی هم دیومنل شوی‌لیکوال،شاعراو اجتماعی شخصیت په توګه پیژندل شویدی .

دپښتوداوسنی انقلابی‌نسل‌شاعران هم ترزیاته حده‌دده په پله روان‌دی.

دده داشعارو.دغه لاندی‌کتابونه چاپ شوی دی :

(۱) چونغر (پښتو) .
(۲) کیږدی (پښتو) .
(۳) یادونه او درمندونه (پښتو).
(٤) بادبان (دری) .
(٥) قصی او افسانی (پښتو) .

دچاپ شمیر : ۵۰۰۰ توکه
دچاپ ځای : گوندی مطبعه